
حیثیت
ناول
Ketabton.com
لیکوال: نیک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم : حیثیت ناول

لیکـــــوال : نیک محمد بارک

چاپ کــال : ۱/۹/ ۲۰۱۹

کمپوز او کمپیوټري چارې : نیک محمد بارک

ادرس : لوی کندهار

موبایل : +93702110371

واتسف : +93784422655

naikbarak786@gmail.com

nbarakzai786@yahoo.com

Facebook: Naik Mohammad Barak

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر حیثیت ناول باندی نظر

سلامونه او نیکې هیلۍ تاسو ټولو لوستونکو ته وړاندی کوم!

د هر څه نه مخکې ښاغلي نیک محمد بارک صاحب او کورنۍ ته یې مبارکې وایم واقعیت هم د ویاړ ځای دی چې بارک صاحب په کم عمر کي د زیات استعداد خاوند سویدی او موږ یې په ښایستو لیکنو نازولې یو او اسلام او خپلۍ مورنۍ ژبې پښتو ته یې ددې لارۍ خدمتونه کړیدی، بارک صاحب راڅخه غوښتنه کړې وه چي باید د همدې کتاب نظارت یی وکم، ناول مي ووایه په ډیر ښایسته طرز لیکل سوې وو لکه څنګه چې دا ناول د بارک صاحب لومړۍ ناول دی نو څه ناڅه نیمګړتیاوې یی درلودی بارک صاحب ته می ور په ګوته کړې هیله ده چي په راتلونکو ښایستو ناولونو کي یې مراعت کړې د بارک صاحب د لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

برياوو په هيله يم قلم يې همداسې جاري د پاک رب له درباره غواړم وسلام.

په درنښت:

ډاکټر الياس احمد (سويډن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبرې

د مکتب په څلورم صنف کی وم چی پلار جان می وفات سو ډیر کشر وم په ښه او بد نه پوهیدلم، مور او ورونو می ماته دومره مینه راکړه چی د پلار غم یی راڅخه هیر کړی وو خو کله چی به می نور کوچنیان د خپل پلار سره لیدل نو ډیر به خوابدی کیدم او تر سترګو به می بی اختیاره اوښکې راتلی کرار کرار به می دا غم زیاتیدی او تر ډیره دا غم را سره وو په اخیر کی به می داسی څه لفظونه تر خوله راوتل چی زما په اختیار کی نه وه او نه هم پوهیدم چی دا زه څه وایم خو هغه به می لیکل او د ځان سره به می ساتل کرار کرار په دی پوه سوم چی زه څه لیکم دا شعرونه دی کرار کرار می ادامه پسی ورکړه تر دی حده چی یو نظم می جوړ کی او په مکتب کی په جوړی سوی مشاعره کی می ووایه چی د استاذانو او کورنی لخوا می ډیر تشویق سوم زما د شعر و شاعری

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره علاقه نه وه خو چی کله به غمجن سوم نو بی اختیاره به می تر خوله وتل غم به می یو څه ور سره کم سو وروسته می د لیکوالی سره مینه پیدا سوه د ډیرو کیسو په لیکلو می شروع وکړه خو د څه ستونزو لکبله به پر نیمایی راڅخه پاتی سوی دا می اولنی ناول دی چی پای ته می ور رسوی ددی ناول کیسه 30% حقیقت لری او ځینی هغه کلمات پکښی کارول سویدی چی څنګه په حقیقت کی پیښ سوی وه خو هیله کوم د اصلی کیسی په اړه زما څخه هیڅ وضاحت مه غواړی او نه به یی هم زه کله درته induction وه وایم نو صرف ناول وګوری او خوند تری واخلی د نورو ناولونو د لا ښه لیکلو لپاره هیله کوم زما سره پر پورته ادرسونو خپل نظرونه شریک کړی.

په درنښت:

نیک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حیثیت

سلطان یو بزګر دی هغه خپلو دریو کوچنیو ورونو ته چی د پلار تر مرګ وروسته و ده ته ورپاته سوی وه او ده یی د خپلو اولادو پڅیر ساتنه کول کیسه کول.

زامنو دی دنیا ته موږ ټول یو رکم راغلی یو چی نه پیسی د یوه سره وې او نه مال و جایداد ټول سره یو شان وه نه خان وو نه فقیر ځکه دا د ژوند شروع وه خلک په کارو اخته سول وروسته بیا خلک پر څو ډلو تقسیم سوه اصلاً کی خو موږ ټول دی دنیا ته د الله جل جلاله د عبادت لپاره راغلی یو خو د ژوندې پاته کیدو لپاره باید یو کار هم وکو. ځینو لږ عبادت وکی او زیات کار یی وکی او زیات څه یی تر لاسه کړه ځینو بیا سستی کول نه یی عبادت سم کوی او نه یی هم کار سم کوی دوی بیا لږ څه تر لاسه کړه او ځینو بیا لږ عبادت کوی لږ یی بیا کار کوی چی دی خلکو صرف سهار ګټل او ماښام یی سره خوړل لکه موږ چی یو. بچیانو پیسی په ژوند کی مهیمی نه دی انسانیت، مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښه اخلاق چې څوک ولري هغه تر ټولو لوی شتمن دی که څه هم پیسې ونلري ټول خلک به یې احترام کوي او هغه خلک چې پیسې لري د هغو خلک ددې لپاره ظاهري احترام کوي چې هغه پیسې لري او دوی ترې د یو څه تمه لري خو چې څوک انسانیت، رښتینې مینه او ښه اخلاق ولري نو د هغو به خلک د زړه نه احترام کوي کوښښ وکې زامنو چې د خلکو زړونه په انسانیت، رښتینې مینې او ښو اخلاقو لاسته راوړې نو خلک به حله در سره رښتینې مینه وکې. د سلطان په دریو ورونو کې مصطفیٰ ډیر زیرک وو هغه د سلطان نه پوښتنه وکړه

لالا که زه د خلکو سره ښه چلند وکم او د هغو سره رښتینې مینه وکم ایا زه به پر هغو ګران سم.

سلطان مسکې سو او مصطفیٰ یې تر باړخو ونیوی او ورته یې وویل هو زما ګرانه ته به پر خلکو ډیر ګران سې لکه څنګه چې پر ما ګران یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفیٰ وویل: نو لالا زه ژمنه کوم چې زه به تل د ټولو سره ښه چلند کوم او د زړه مینه به ور سره کوم.

سلطان: شاباس زما زمریه حلی درځی ناوختی دی چی کورته ځو.

د ورونو مینه جلا وی خو د پلار مینه بیا جلا خو بس مصطفیٰ به دا غم په زړه کی پوټوی چې هسی نه ورور یی دا فکر وکی چی زما په روزنه کی کوم کمی راغلی دی هغه دا خبره په ذهن کی ډیره ټینګه ونیول چی د چا سره به رښتینی مینه کوی د دوی په کلی کی د یو خان کور وو چی هغه به د پسرلنې میلی لپاره صرف دی کور ته راتلی دلی به یی دوه دری میاشتی تیرولی او بیرته به تلل د مصطفیٰ مشر ورور سلطان د هغو په کور کی مزدوری هم کول د هغو ګلان به یی ور ساتل او د کور صفایی به یی کول کله کله به یی د ځان سره مصطفیٰ هم بیوی هلته. هغه لومړی ورځ وه چی کله مصطفیٰ هغه ولیدل نو باندی عاشق سو خو هغه ډیره مغروره وه د نورو ماشومانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره به یی هم ډیر په غرور خبری کولی زیاترو ماشومانو د هغی سره د زیاتو شیانو په خاطر مینه کول او ورسره خندل یی خو مصطفٰی پر هغی باندی ربنتینی عاشق وو د هغی د شیانو او مقام په کیسه کی نه وو ځکه دی روزل سوی هم داسی وو چی د چا د پیسو او مقام سره یی مینه نکول مصطفٰی د خپل ورور څخه پوښتنه وکړه: لالا هغه انجلۍ څوک ده هغه هلته چی بازی کوی.

سلطان وویل: دا د خان صاحب لور ده دا موږ چی یی په کور کی کار کوو شهناز فهیم نومیږی.

مصطفٰی: لالا زه هم د هغی سره سات تیر کم.

سلطان: هو ورسه زویه.

مصطفٰی کرار کرار د هغی وخواته ور روان سو کله چی هغو ته ور ورسیدی نو د ټولو ماشومانو و ده ته پام سو او د شهناز نه یی پوښتنه وکړه چی دا هلک څوک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز وویل: دا زموږ د مزدور ورور دی د هغه سره دلته زموږ په کور کی کار کوی.

بیا شهناز وویل ایې هلکه ستا نوم څه دی.

مصطفٰی په موسکی ورته وویل: زه مصطفٰی یم.

شهناز او ملګرې یی ټول په خندا سول ویل مصطفٰی!!!!؟

بیا شهناز وویل: هله ورسه زموږ لپاره یخې اوبه راوړه لږ ژر.

مصطفٰی په موسکې ولاړی او د هغو لپاره یی اوبه راوړلی او مصطفٰی ته یی وویل چی هله ووځه د میدانه زموږ بازی مه را خرابوه.

هغوی بیرته په خپلو لوبو اخته سول او مصطفٰی بیرته د هغو څخه راغلی د ورور و څنګته کښینستی ورور یی ورته وویل: زویه دا د غټو خلکو اولادونه دی که موږ هر څومره ور سره رښتینی اوسو خو دوی بیا هم په موږ صرف پسخند وهی او زموږ غریبانو مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

صرف مسخری ورته معلومیږی خو موږ کښته طبقه یو باید ددی شیانو سره ځان عادت کړو او بد په وینسو.

مصطفٰی به هره ورځ هغی ته ډیر په مینه مینه کتل خو هغه یی هیڅ په کیسه کی هم نه وه، د شهناز فهیم او د کورنیو د میلو وخت یې خلاص سو او دوی په موټر کی روان سول مصطفٰی هغوی د شا لخوا تر ډیره حده وڅارل.

کلونه تیر سول مصطفٰی ځوان سو او په کلی کی به یی د خلکو سره ډیر په مینه چال چلند کاوه د هر چا سره به یی په مسکا خبری کولی مصطفٰی ډیر یو با اخلاقه ځوان وو نو ځکه یی په کلی کی زیات ملګرې درلودل.

د مرغانو غوغا او اوازونه وه موسم هم د بهار رانیږدی وو مصطفٰی هم ډیر خوشحاله وو ځکه د شهناز سره د لیدلو لیواله وو د هغې لیدو ته بی صبرې وو خو زړه یی تکیه وو چې دوه دری میاشتی به د هغې دیدن کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو ورځې وړاندی د شهناز پلار د مصطفٰی وروور سلطان ته زنګ وکړ چې راتلونکې هفته موږ درځو کلي ته کور باید تیار وي شهناز لور مې د کال د غوره ښځینه اوارډ ګټلی دی او موږ غواړو په دی خوشحالي کی یو کوچنې میلمستیا هم هلته جوړه کړو مصطفٰی غوږ ورته نیولی وو کله چې یی د شهناز د راتلو واوریدل نو ډیر خوشحاله سو او لاندینې ځو بیتونه یې تر خوله بی کنټروله ووتل،

بی نظره زنده ګی ده

هم ګرانه زنده کی ده

بس زه باندی مین یم

خو جدا مو زنده ګی ده

ځو ورځې وروسته شهناز او کورنې یې کلی ته راورسیدل مصطفٰی تر یوی درختی شاته شهناز ته پټ پټ کتل کله چې هغه د موټره راکښته سول نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلیدل چی هغه ډیره غټه سویده او ډیره ښکلې سوی هم ده، ماښام ته میلمستیا جوړه سوه ټولو شهناز ته د اوارډ ګټلو مبارکیانې او ډالې ورکولی، د مصطفٰی ملګری هم دی میلمستیا ته راغلی وو هغوی په دی خبر وه چی مصطفٰی پر هغې مین دی نو مصطفٰی یی بغلته کی او ورته یی وویل چی هله مصطفٰی همدا دی موقع ده ورسه او هغې ته یو ډالې ورکه کرار کرار به سره ورپیژنی په همدې رکم،

مصطفٰی وویل: نه یاره نه وینی د هغې سره یی کورنی او ملګرې دی تاسو می لکه چی په ډبوئ،

خو ملګرو یی مصطفٰی مجبوره کې چی باید شهناز ته یو ډالې ورکی،

مصطفٰی وویل: سمده ورکوم یی خو زما سره داسی څه نسته چی هغې ته یی ډالې کم، د مصطفٰی د یو ملګرې خور هم همدلته موجوده وه هغه خپلی خور ته وویل چی ته ستا دا لاس بند راکه زه بیا تاته بل راوړم هغې هم ورکې هغه مصطفٰی ته ورکی او ورته یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چی هله ورسه ور یی که مصطفٰی وویل سمده خو چی د موقع ځای راسی ور به یی کم.

څه ځنډ وروسته شهناز د ملګرو څخه جلا سوه او ولاړه دباندی یوازی ودریده، د مصطفٰی ملګرو هغه ته اشاره وکړه چی هله ورسه اوس دی موقع ده هغې ته ډالی ورکه، مصطفٰی هم د څو ګیلاسو شربتو سره د هغې وخواته ورغلی او ورته یی وویل اغلې شربت؟

شهناز د هغه څخه شربت واخیستل او په څیښلو یی پیل وکړ، مصطفٰی زړه نسوای کولای چی هغې ته مبارکی ووایی او ډالې ورکې هلته یی د شا لخوا ملګرې اشاری ورته کوی چی هله ژر سه مبارکې او ډالی ورکه، مصطفٰی هو څه ناڅه زړه وکی او هغې ته یی په کښته لهجه او په ډیره مینه وویل اغلې فهیم ( خبر سوم چی اوارد مو تر لاسه کړیدی زیات خوشحاله سوم ډیر ډیر دی درته مبارک وی د لا بریاوو په هیله دی یم)خو شهناز هغه ته هیڅ ارزښت ورنه کې د غروره یی صرف سر ورته وښوروی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څخه یی ډالۍ واخیستل خو چی بیرته دننه تله هغه ډالۍ یی په کچره دانۍ کی وغورزول. د مصطفٰی زړه ډیر درد وکې او ورغلی هغه لاسبند یی بیرته را واخیستی او د ملګرو او محفل څخه خوابدی دباندې راووتې یوازې کښینستې او هغه لاس بند ته یی کتل،

څو ورځې وروسته شهناز او ملګرې یی د کلی یو اوږد سیند ته د میلې لپاره ولاړل په همدې ورځ مصطفٰی او ملګرې یی هم ددی سیند و میلې ته راغلې وه د مصطفٰی ملګرې اخته وه او خپل ساتیرې یی سره کوی خو مصطفٰی خوابدی د درختی په یو ښاخ کی څنګ اچولی وو او هغه لاس بند ته یی کتل چی شهناز ته یی ورکړی وو، نابیره چیغې سوی مصطفٰی یو دم راوغورځیدی او ویکتل چي څه پیښه ده خو څه یی ونه لیدل دی چی کله بیرته پریوتې نو ملګرو یی په ځغستا او ورخطایی ږغ باندی وکی چی هله مصطفٰی د خان صاحب لور شهناز اوبو ویوړه مصطفٰی چی کله دا واوریدل نو فوراً د درختی څخه راوغورځیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د سیند وخواته یی ور وځغستل ویلیدل چی شهناز اوبو اخیستې ده او د ابشار وخواته یی پورې وهې شهناز د ژغورلو ناری وهلی مصطفٰی هم فوراً سیند ته پسې ور وغورځیدې او شهناز ته یی په یو رکم ځان ور ورسوی شهناز لړ. پاتې وه چی تر ابشار لاندې شاوه سې خو مصطفٰی ژر هغه تر لاس ونیول او په ډیر تکلیف یی هغه د اوبو څخه را وایستل شهناز چی کله د اوبو د ایستلو څخه خلاصه سوه نو په مغرورانه ډول یی د مصطفٰی وخواته وکتل او ځنی روانه سوه مصطفٰی چی کله خپلو ملګرو ته راغلی نو هغو ورته وویل چي مصطفٰی اوس به دی نو د هغې په زړه کي ځای پیدا کړی وی مصطفٰی موسکې سو خو هلته یی شهناز ته ملګرو وویل چی تا باید د مصطفٰی څخه مننه کړی وای ځکه هغه خپل ځان په خطر کي واچوی او ته یی وژغورلې، شهناز هغو ته وکتل او ورته یی وویل هغه زموږ. مزدور دی دا خو د هغه مسؤلیت وو چي ما وژغورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته مصطفٰی د شهناز په فکر کي وو هیڅ شی خوند نه ورکوی ځکه عاشق سوی وو یوازې به یی د شهناز فکر کوی په دی وخت کی یی ملګرې راغلل او هغه ته یی وویل چي مصطفٰی اوس نو باید ته هغې ته د خپل زړه خبره وکې ځکه تابه هم اوس د هغې په زړه کی ځای پیدا کړی وی، مصطفٰی ورته وویل: یا یارانو بیا به هغه فکر کوی چی ده زه د مطلب لپاره وژغورلم زه نه ورته وایم، خو ملګرو یی مصطفٰی مجبوره کي چی هتمن به ورته وایی، مصطفٰی هغو ته وویل: سمده سبا سهار به ورته ووایم خو زړه ولاکه کولای سم د هغې حیثیت تر ما لوړ دی هغه به ما ونه منې، ملګرو یی ورته وویل چی ته به بهانی نه جوړوی سبا به هتمن ورته وایی ته خو ربنتینې مین یې ربنتینې مین هیڅکله نه ناکمیږی، مصطفٰی وعده ور سره وکړه چی سمده ورته وایم،

کله چي سهار سو نو د مصطفٰی ملګرې د هغه وکورته راغلل او هغه ته یی وویل چی هله درځه اوس به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه خبره ورته کوی دوی تهول د شنهاز د کور وخواته ور رهې سول کله چی د شهناز دی ماښې ته راورسيدل نو ویلیدل چی شهناز او کورنې یی تهول په موټر کی سپاره دی او وتګ ته اماده دی مصطفٰی ډیر پریشانه سو او د هغو وخواته ورنیږدی سو د شهناز فهیم پلار و مصطفٰی ته اشاره وکړه چی دلته راسه کله چې مصطفٰی ورغلی نو لومړې یی د شهناز د ژوغورلو مننه تری وکړه او بیا یی ورته وویل چی ورور ته دی ووایه چی نور موږ دا ماښی پر بل چا خرڅوو بیا هیڅکله نه راځو.

د شهناز پلار دا خبره وکړه او وروسته په موټر کی کښينستی او روان سول مصطفٰی تر ډیره پوری سترګی د شهناز پر څیهره ښخې کړی وی او ډیر پریشانه سو، کله چی یی د شهناز دی موټر تر سترګو نیهام سو نو د ملګرو پر خوا په خوابدی سره رهی سو ملګرو یی هغه ته تسلیت ورکی خو د مینی اور چی د چا په زړه کی بل سی بیا یی هیڅ تسلیت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیا هیڅ شی یی نسي مړ کولای یوازی او یوازی یې دوی سترګی علاج وی د غمګین زړه لپاره یی، مصطفٰی به ټوله ورځ غمګین وو او هیڅ شی ته به یی زړه نه غوښتی چی ویکړی ملګرو به یی هغه د هغوی سره بازی کولو ته دعوتوی خو مصطفٰی به هغو ته منفی جواب ورکوی اخیر به یی ملګرو په زور بیوی و بازی ته خو د بازی په جریان کی به د مصطفٰی په ذهن کی یوازی او یوازی شهناز ګرځیدل او ټول فکر به یی د هغۍ وخواته وو، څو ورځی په همدی رکم تیری سوی ملګرو یی د ځان سره وویل چی زموږ ښه ملګرې په مشکل کی دی موږ باید هغه ته د یو حل لاره ولټوو ځکه موږ دده دا خوابدتیا نسو زغملای، ټول یو ځای د مصطفٰی وخواته ورغلل او هغه ته یی وویل

:یاره موږ ستا دا حالت نسو زغملای ترمخه به مو ښه خوشحالی او بازی کولی خو اوس ستا دا خوابدتیا موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول خوابدی کړی یو موږ ستا ددی مشکل یو حل لاره را ایستلی ده، مصطفٰی ویل څنګه حل لاره،

هغوی وویل: ته باید په شهناز پسی ښار ته ورسې او د خپل زړه خبره ورته وکړی که دی نه ورته وکړه نو تل به همداسی خوابدی یی او همدا حالت به دی وی،

مصطفٰی په مړه موسکی خوله وویل: نه یاره داسی خبره نه ده شاید یو څه وخت بعد می هغه هیره سی بیرته به خپل پخوانی ژوند شروع کم،

ملګرو یی وویل: په قسم سره درته وایو چی ته به هیڅکله هم هغه هیره نکړی او تل به دی همدا حالت وی لکه څنګه چی دی موږ اوس وینو نوری خبره مکوه بس ښار ته د تلو اماده ګی ونیسه موږ دی ملګرې یو.

مصطفٰی ښار ته د تللو اماده ګی ونیول ځکه ښار ددوی څخه څو کیلومتره لیری وو او د څو ساعتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره وه، مصطفٰی تیار سو او د ملګرو څخه یی خدای په امانی واخیستل او د یو بل ملګرې سره د ښار پر خوا رهی سو،

تر زیات مزل وروسته ښار ته ورسیدی او پخوانی د خوابدتیا رنګ یی اوس په موسکی رنګ واوښتی، د شهناز د کور ادرس یی پر یو ورقه لیکلی وو تر څه پوښتنو وروسته یی د شهناز د کور ادرس پیدا کړ د شهناز دی کور ته نیږدی یی یو هوټل کی کوټه ونیول کله چی کوټی ته داخل سو نو لومړی یی د کلکین نه د شهناز دی د کور وخواته وکتل او د ستړیا غټه ساه یی و ایستل،

کله چی سبا سو نو مصطفٰی او ملګرې یی د شهناز دی کورته ورغلل د شهناز پلار ته یی وویل چی زه ښار ته د کار لپاره راغلی یم تاسو زموږ مشران یاست نو می وغوښتل چی ستاسو سره هم ووینم زه ستاسو د کور پر مخامخ دی هوټل کی اوسیږم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهناز پلار ورته وویل: تر هغه وخته چې ته کار پیدا کوی زموږ کور کې اوسه،

مصطفٰی وویل: نه مشره تاسو ته به تکلیف وی،

د شهناز پلار وویل: دا بیا تکلیف ولې دی غټ کور دی تاسو به پکښې معلوم هم نسی.

مصطفٰی ور سره ومنل او د شهناز دی په کور کې یې استوګنه پیل کړه.

کله چې ماښام سو مصطفٰی د خپلې کوټې ومخته ناست وو چې د شهناز موټر راغلی مصطفٰی ژر ور ولاړ سو او هغی ته یې د موټر دروازه ور خلاصه کړه،

کله چې شهناز د موټر نه راکښته سوه مصطفٰی ته یې په هیرانی وویل چې ته دلته چشی کوی او څه وخت رالی،

مصطفٰی ورته وویل: نن راغلم غوښتل می چې دلته ښار کی یو کار وکم مشر ویل چې تر هغه وخته چې کار پیدا کوی همدلته اوسه زه هم راغلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز تر څه خبرو وروسته خپلې کوټې ته ځنې ولاړه او مصطفٰی خپلې کوټې ته ولاړی.

مصطفٰی ټوله شپه د هغې په یاد کې تیره کړه، کله چې سهار سو شهناز تر ناشتې وروسته په موټر کې کښینسته او ولاړه مصطفٰی هم په هغې پسې ووتې تر څه مزل وروسته شهناز خپل پوهنتون ته ننوتل مصطفٰی هلته ورته انتظار سو او څه وخت وروسته بیرته ولاړی.

شپې و ورځې تیریدلې خو مصطفٰی دا زړه نسوای کولای چې شهناز ته د زړه حال ووایې مصطفٰی ددې په کیسه کې نه وو چې هغه پیسه داره ده نو دی به مینه ور سره کوی بلکې مصطفٰی د کوچنیوالې څخه دا زده کړې وه چې مینه د زړه څخه کیږی او پر زړه ختمیږی مینه باور او ټینګ عزم غواړی د مینه شروع هم یو ځای وی او ختم هم مینه یو څه لمنځه وړلای سی کله چې درواغ پکښې وویل سی مصطفٰی د اولې ورځې څخه پر شهناز مین وو د هغې پر شتمنې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو شهناز د خپلې شتمنۍ غرور نيولې وه هغې د مصطفیٰ مينه هيڅ نسواې درک کولاې خو بيا هم د مصطفیٰ زړه نه ترې صبريدې د هغې کتل ورته د جنت پڅير وه د هغې سره څو لحظې خبرو به دده د مياشتو مياشتو خوشحاليو سبب کيده.

څه موده بعد د شهناز د پلار يو پخوانی ملګرې د خاريج څخه د شهناز دې کورته راغلی د دوې کره يی استوګنه پيل کړه د هغه يو زوی هم ور سره راغلی وو يوه ورځ يی په خبرو کی د شهناز پلار ته وويل چی دا زوی می سرفيراز نوميږی سږ کال د اقتصاد پوهنځی څخه فاريغه سو او په ښار کی د يوی غټې کمپنی لخوا ورته د کار وړانديز سويدی چی د يوه کوچنی مزدور تنخوا يی تر ۵۰۰ دالر نه ده کمه انشاءالله زما زوی به يی ژر مدير هم سی ددې کمپنۍ ولی چی زما زوی ډير لايقه دی غوښتل می چی يوه ښه انجلۍ سره يی واده ور وکم نو ځکه دی ښار ته راغلم ځکه دا می خپل مورنۍ ټاټوبی دی او خپل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار انجلۍ ور غواړم نو ځکه دلته راغلم چې ته راسره په دې کار کې کمک وکې،

د شهناز پلار هغه ته وویل چې ولې نه سرفیراز خان خو زما د زوی پخیر دی انشاءالله چې یوه ښه انجلۍ به یې په نصیب کیږي،

د سرفیراز پلار د شهناز  د پلار نه د شهناز په هکله وپوښتل چې هغه څنګه ده زده کړې یې تر کومه ځایه رسولې دي واده یې کړیدی که نه،

د شهناز پلار موسکۍ سو او ورته یې وویل ښه ده غټه سویده په راتلونکې میاشت کې د طب پوهنځی څخه فاریغه کیږي تر اوسه مې یو داسې هلک نه دی پیدا کړی چې ددې دی خوښ وي او زه یې واده ور سره وکم.

څو شیبې وروسته شهناز راغله او د ټولو سره یې روغبړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو ورځې تېرې سوې سرفیراز کوښښ کاوه چې شهناز ته ځان نېږدې کې نو ځکه د هغې پر طرف ډېر ګرځېدی هغې ته کرار کرار ور نېږدې کېدی او د ژوند په باره کې یې خبرې سره کولې سره خندل به یې،

یوه ورځ چې دوی سره ګرځېدل او خبرې یې سره کولې د شهناز پلار او د سرفیراز پلار هم سره ناست وه چې دوی دوه یې خوشحاله سره ولیدل نو د سرفیراز پلار موسکی سو او د شهناز پلار ته یې وویل: ملګرې ما او تا د کوچنیوالې ملګرې یو داسې یو لکه خپل ورونه ایا خوښه دې نه ده چې شهناز زما زوی سرفیراز ته راکړې زما و ستا ملګرتیا به نوره هم ټینګه سي ستاسو تر کور به بل ښه کور چیرې وی ستا ځنګه خوښه ده،

د شهناز پلار ورته وویل: چې زما خو ستاسو کور خوښ دی او پوهیږم چې تاسو به زما لور ډېره خوشحاله را وساتې دا خپلوی مې هم خوښه ده خو زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید لومړی د شهناز سره صلاح وکم چی د هغي ځنګه خوښه ده که د هغې خوښه سوه نو زه هیڅ مشکل نلرم، د سرفیراز پلار ورته وویل سمده چی څنګه ستاسو خوښه وی،

کله چی ماښام سو د شهناز پلار د شهناز کوټې ته ورغلی او هغی ته یی وویل: د سرفیراز پلار سهار ستا لاس د خپل زوی د پاره راغخه وغوښتی خو ما ویل چی زه باید لومړی ستا سره صلاح وکم چی ستا سرفیراز خوښ دی که نه زما خو دا کور خوښ دی ته خو خبره یی لورکی چی سرفیراز هم ښه هلک دی د اقتصاد پوهنځې څخه فاریغه سویدی د ډیرو پیسو وظیفه هم لری

که ستا خوښه وی زه به هو ورته ووایم،

شهناز په مسکا ورته وویل: بابا چی څنګه ستا خوښه وی زه خو څه نه پکښی وایم تا زه د کوچنیوالی څخه په ډیره مینه را لویه کړی یم تاسو چی هره پریکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړیده زما په ګټه مو کړیده چې ستاسو خوښه وی زما هم خوښه ده،

د شهناز پلار ډیر خوشحاله سو او شهناز یی په غیږ کی ونیول او پر تندی یی مچ کړه او ځنی ولاړی،

کله چی سهار سو د سرفیراز پلار او د شهناز پلار د سهار چایو ته سره ناست وو په دی وخت کی د سرفیراز پلار تری وپوښتل چی ملګرې ایا تا د شهناز سره خبری وکړی ایا د هغی دا دوستی قبوله ده د شهناز پلار په موسکی ورته وویل چی هو شهناز دا دوستی قبوله کړه، نو دواړو د خوشحالیه په غیږ کی سره ونیول او یو وبل ته یی مټایان په خوله کی سره ورکړل او د شهناز وویل چی کله شهناز فاریغه سی نو په هغه ورځ به یی کوزده هم وکو ، مصطفٰی د شهناز د موټروان نه پوښتنه وکړه چی خیریت دی خان صاحب ولی دومره خوشحاله دی، د شهناز موټروان ورته وویل: خان صاحب او ملګرې یی دوستی سره وکړه یعنی شهناز یی سرفیراز ته ورکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی خبری په اوریدو سره د مصطفٰی هوښ د سره ووتی او ګونګ سو نیږدی وو چی ځغوار سوی وای ملګرې یی ژر ټینګ کړی او خپلی کوټی ته یی بوتلی کله چی کوټی ته ورسیدل نو د مصطفٰی د سترګو څخه بی اختیاره اوښکی راغلی ملګرې یی دلسایی ورکول خو بیا یی هم اوښکی ونه دریدی ملګرې یی ورته وویل: ایی مصطفٰی یاره په تا اوس څه وسول،

مصطفٰی په ژړغونی اواز ورته وویل چی تا اوس نه واوریدل چی زما شهناز یی بل چاته ورکړه،

ملګرې یی وویل: تر اوسه خو یی نه ده ورکړی خو مازی یی خبری سره وکړی،

د مصطفٰی زړه لږ پر ارامه سو ملګرې یی ورته وویل: مصطفٰی ته اوس هم وخت لری باید ژر تر ژر شهناز ته د خپلی مینی ووایی که نه نو ډیر به ناوخته سی،

یوه ورځ شهناز په موټر کی د کور څخه دباندی ووتل مصطفٰی هم څه ځنډ وروسته پر موټرسیکله ووتی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوره، مصطفٰی پر یو اوږد سړک روان وو تر سترګو یی اوښکی بهیدلې چی لږ مخته ولاړی ګوری چی د شهناز موټر په لار کی خراب سویدی مصطفٰی غوښتل چی تری تیر سی خو د شهناز موټروان ناره پسی وکړه چی مصطفٰی ودریږه مصطفٰی چی کله ورته ودریدی د شهناز موټروان شهناز ته وویل چی موټر ژر نه جوړیږی زه به میستری ورته راوغواړم ستا د امتحان ناوخته کیږی ته د مصطفٰی سره ولاړه سه هغه به دی ور رسوی شهناز په مغرورانه لهجه ورته وویل چی زه او موټرسیکل زه نه ځم ور سره موټروان ورته وویل: اغلې ستاسو امتحان به تیر سی او موټر هم ژر نه سمیږی،

اخیر شهناز مجبوره سوه او د موټره راکښته سوه د شهناز موټروان مصطفٰی ته وویل: مصطفٰی اغلې خو تر پوهنتونه ور رسوه زموږ موټر خراب سو، مصطفٰی په هیرانی ورته وویل چی زه؟ ده لا خبره نه وه خلاصه کړی چی شهناز یی تر شا پر موټرسیکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور سره کښېنسته، مصطفیٰ په هیران سره روان سو، د لاری په نیمایی کی د شهناز احساس یی پر زړه وموښتی او د شهناز د واده خبری یی ور یاد سوی یو ځل بیا یی تر سترګو اوښکی را وبهیدلی تر دی حده چی په اوښکو یی د شهناز لاس لوند سو شهناز چی کله خپل لاس لوند ولیدی نو د موټرسیکله په هنداره کی یی د مصطفیٰ ومخته وکتل ګوری چی د مصطفیٰ د سترګو څخه د ویالی د اوبو پڅیر اوښکی را روانی دی، شهناز ډیره هیرانه سوه او څه ځنډ وروسته یی مصطفیٰ ته وویل چی موټرسیکل ودروه، مصطفیٰ ژر د مخ اوښکی پاکی کړی او موټرسیکل یی ودروی او پوښتنه یی تری وکړه چی اغلۍ خیر دی، شهناز ورته وویل څه کیسه ده ولی پریشانه یی او دا اوښکی د څه د پاره، مصطفیٰ په ژړغونی موسکی اواز ورته وویل چی نه خیر هیڅ خبره نه ده هغه می په سترګو کی یو شی ولویدی، شهناز ورته وویل: درواغ مه وایه زه ډاکټره یم ستا د سترګو څخه داسی معلومیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تا ټوله شپه خوب نه دی کړی او ډېر دی ژړلی دی ولی او د څه لپاره؟

مصطفٰی بیا ورته وویل: نه خیر هیڅ خبره نه ده هغه داغسی،

شهناز ورته وویل: خامخا به راته وایی چې څه خبره ده؟

مصطفٰی وویل: نه هیڅ خبره نه ده ما درته وویل چې هغه می په سترګو کی یو شی ولویدی.

شهناز په غوسه ورته وویل: راته ووایه چې څه خبره ده ستاسو د ځیهری څخه معلومیږی چې یو خبره هتماً سته خو ته یی ماته نه وایی ایا پر یو چا مین یی که ځنګه،

مصطفٰی موسکی سو، شهناز ورته وویل: ښه ښه پوه سوم چې د مینی خبره ده دا راته ووایه چې څوک ده.

مصطفٰی وویل: نه داسی خبره نه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز وویل: نه نه هتماً به راته وایی چی څوک ده او چیری اوسیږی،

مصطفٰی په موسکی او زهیره ځیهره ورته وویل: هغه د داغه ښار ده خو نور غواړم هیره یی کم،

شهناز وپوښتل: ولی ولی یی هیروی؟،

مصطفٰی وویل: فایده نکوی ځکه چی ډیر ژر به د هغی کوزده او واده وسی او زما د ژونده به ډیره لیری ولاړه سی،

شهناز وپوښتل: ایا هغه هم ستا سره مینه کوی؟

مصطفٰی وویل: نه هغه خو په دی هم نه ده خبره چی زه مینه ور سره کوم زه د هغی لپاره همدی ښار ته راغلم ځکه چی زه په کلی کی پر هغی مین سوی وم،

شهناز شکی سوه چی دا به ما ښیی نو ځکه یی په غوسه وپوښتل: څوک ده هغه راته ووایه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفٰی وویل: نه نه غواړم چی نوم یی درته ووایم فایده نکوی ځکه د هغی او زما لار نور جدا کیږی نو نه غواړم چی بیا مو کوم ستونزه په مینځ کی راسی،

شهناز په ډیری غوسی سره ورته وویل: ما درته وویل چی راته ووایه چی څوک ده هغه؟؟؟؟

مصطفٰی وبیریدی تر سترګو یی اوښکی وبهیدلی او په ژړغونی اواز یی شهناز ته وویل: شهناز هغه چی زه زیاته مینه ور سره کوم هغه ته یی هو زه ستا سره مینه کوم بیله تا ژوند نسم کولای ستا لپاره پیدا سوی یم او ستا سره به یو ځای مړ کیږم،

د شهناز مخ د ډیری غوسی څخه سور واوښتی او مصطفٰی ته یی پر مخ ټینګه چکه (څپیړه) ورکړه مصطفٰی د شهناز په چکی سره سر کښته واچوی او شهناز هغه ته په غوسی کتل او بیا یی ورته وویل: خپل حیثیت ته دی کتلی دی بی سیواده بی عقل یی په خیمه کی رالوی سوی یی د غواوو او مځکو سره دی ژوند ټول تیر سویدی ته زما سره مینه کوی تا دا فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا څنګه وکی چی زه به ستا سره مینه وکم؟ زموږ په پیسو دی ژوند تیریږی، پوهیږی زما راتلونکی خاوند څوک دی هغه د ټول هیواد په کچه یو تکړه سیواداره اقتصاد پوه دی د یوی میاشتی تنخوا یی ستاسو د ټول عمر د ګټلو پیسو سره لا نه ده برابره او تا څه وویل چی ته بیله ما ژوند نسی کولای؟ زه به تاته د خپلو پښو د صنډلانو ځای لا نکم در که ژوند نسی کولای بیله ما نو ورسه داغه پنځه روپی واخله زهر په رانیسه او ویخوره.

مصطفٰی لاندی کتل او تر سترګو یی اوښکی بهیدلی هیڅ یی هم نه ویل.

څه ځنډ وروسته د شهناز موټروان راغلی او شهناز ته یی وویل چی راځه اغلی موټر سم سو، شهناز موټروان ته په غوسه وویل: بی عقله ما نه درته وویل چی زه ددی بی حیثیته انسان سره نه ځم، موټروان وویل: خیر دی اغلی څه کیسه ده، شهناز وویل هیڅ کیسه نه ده درځه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفیٰ پر هغه ځای ولاړ وو او ژړل یی بیا د ډیره غمه پر مځکه ولویدی او لوی لوی چغی یی وهلی بیا یی آسمان ته لاس پورته کړ او په چغو یی الله ته وویل: یا الله ته خو پوهیږی چی زه د هغی سره رښتینی مینه کوم د هغی د حیثیت او مقام د پاره یی نکوم لالا خو ویل چی که د چا سره رښتینی مینه وکی نو هغه به هم رښتینی مینه وکی در سره نو بیا زه خو د هغی سره رښتینی مینه کوم نو هغه ولی زما څخه نفرط کوی،

مصطفیٰ پر هغه ځای زیات وژړل او خپل لاسونه یی د مځکی نه وهل،

کله چی شهناز د پوهنتون نه کور ته راغله نو پلار ته یی د مصطفیٰ ټوله کیسه وکړه پلار یی ډیر په غوسه سو او د مصطفیٰ د کوټی وخواته ور رهی سو

کله چي د مصطفیٰ کوټی ته ور ورسیدی نو مصطفیٰ تر لاس ونیوی او د کور ومخته یی پورې وهی او د مصطفیٰ غوټی یی هم ور وغورزولی او ورته ویویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځه ولاړ سه نمکحرامه چې بیا دې زما د کور پر دا خوا لا ونه وینم که مې ولیدې ژوندی دې نه پرېږدم، تر دې خبرو وروسته د شهناز پلار د کور دروازه وتړل، مصطفیٰ او ملګرې یې هم ولاړ سوه او کلي ته د تلو اماده ګی یې ونیول کله چې د بسانو تم ځای ته ورغلی نو د تم ځای مدیر ورته وویل چې اوس هیڅ موټر نه ځي کلي ته ولې چې په لار کې سیلابونه راغلي دي او لارې یې بندې کړیدي تاسو ټکیټ کاټ کې چې کله لارې خلاصې سوې موږ بیا زنګ در وهو، دوی هم ټکیټ کاټ کې او په یو هوټل کې یې کوټه ونیول، شپه ناوخته وه د مصطفیٰ ملګرې بیده سو خو مصطفیٰ د شهناز په غم کې ټوله شپه ویښ وو مځکي ځای نه ور کاوه کله به ووتی کله به ننوتی پر ځای یې طاقت نه کیده، یوار مصطفیٰ د کوټې د کلکین نه دباندې د غم د لیرې کیدو لپاره ووتی څه ځنډ وروسته مصطفیٰ ولیدل چې د شهناز کوژدن سرفیراز هم د دوی و هوټل ته ننوتی کله چې سرفیراز ننوتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو مصطفٰی هم ژر د کوټې نه دباندې را ووتې چې وګورې چې سرفیراز د دوی په هوټل کې څه کوي کله چې یې دباندې وکتل نو ګورې چې سرفیراز په ورخطایی سره شا و خوا ګورې او یوې کوټې ته ننوتې مصطفٰی هم یو څو شیبې هلته ولاړ وو او فکر یې کاوه چې سرفیراز به نو په دې کوټه کې څه کوي خو وروسته مصطفٰی هم خپلې کوټې ته ننوتې، سبا بیا مصطفٰی پر هغه ځای ولاړ وو یو ځل یې بیا ولیدل چې سرفیراز په ورخطایی سره شاوخوا ګورې او هوټل ته ننوتې، مصطفٰی هم فوراً د کوټې څخه راووتې او په سرفیراز پسې سو کله چې سرفیراز خپلې کوټې ته ورسیدې نو دروازه یې وټکول د دننه خوا څخه یو چا ور خلاصه کړه خو مصطفٰی هغه ونه لیدې کله چې سرفیراز کوټې ته ننوتې نو مصطفٰی یې د کوټې و دروازې ته ور نیږدې سو او غوږ یې ورته ونیوې مصطفٰی واوریدل چې د سرفیراز سره یوه ښځه په کوټه کې خبرې کوي او ور سره جنجال یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی هغی په جنجال کی سرفیراز ته وویل: سرفیرازه زه ستا میرمن یم او په دی فلان کی ستا او ستا د پلار ملګرې یم خو که مو زما سره چم وکی لکه څنګه چی یی تاسو د شهناز سره کوی نو دا به درته ډیره بده تمامه سی، سرفیراز هغی ته وویل: نه نه ګرانۍ ته خو زما میرمن یی ته لږ صبر وکه چی مازی می د شهناز سره واده وسی نو د هغی جایداد به ټول زما سی وروسته به شهناز پریږدم او ما وتا به میلی کوو، مصطفٰی ددی خبرو په اوریدو سره ډیر غوسه سو په دی وخت کی سرفیراز هم دباندی را ووتی او مصطفٰی هغه تر غاړی ونیوی او سوکان یی ورته ونیول او ورته ویویل: نمکحرامه ته زما د شهناز سره چم کوی ته زما د شهناز سره چم کوی تر ډیر اخ و ډب وروسته ساتونکی راغلل او سرفیراز یی د مصطفٰی نه خلاص کړ.

کله چی سهار سو مصطفٰی غوښتل چی دا ټوله کیسه شهناز ته وکړی نو ځکه په دی نیت د شهناز د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتون ومخته د هغی په انتظار ودریدی څه ځنډ وروسته شهناز راغلل مصطفٰی د هغی د موټر ومخته ودریدی کله چی موټر ودریدی نو شهناز تری راکښته سوه او مصطفٰی د هغی و خواته ور رهی سو، او ورته یی وویل: شهناز زه غواړم تاته یو څه ووایم سرفیراز صرف ستا سره ستا د جایداد په خاطر واده کوی هغه بل واده هم لری دا څو شپی کیږی هغه د هغی سره اوسیږی او په پټه د هغی سره وینی چی کله یی ستا څخه ستا جایداد وګټی نو تا به داغسی پریږدی....،

کله چی مصطفٰی خبری خلاصی کړی نو شهناز هغه ته وویل: ایا خبری دی خلاصی سوی ته خو ډیر بی شرمه انسان یی تر دومره ذلالت وروسته ته بیا هم زما په شاوخوا کی ګرځی سرفیراز د هغی په اړه ماته هر څه وویل هغه انجلی چی ته یی یادوی هغه د سرفیراز مرستیاله ده او هغی د مخکی نه د بل چا سره واده کړیدی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفٰی وویل: شهناز سرفیراز تا خطاباسی د هغه په خبرو باور مکوه هغه ډیر چمباز انسان دی،

شهناز وویل: سرفیراز چمباز نه دی ته چمباز یی چی زموږ په کور کی اوسیدلی زموږ ډوډی دی خوړل خو په زړه کی راته غل وی دا زما شخصی ژوند دی ښه به دا وی چی لاسو هنه پکښی ونه کړی او که می بیا زما پر شاوخوا لیدلی وی نو سیده به دی محبس ته واستوم،

تر دی خبرو وروسته شهناز د مصطفٰی نه روانه سول مصطفٰی هلته څو شیبی ولاړ وو او بیا خپلی کوټی ته ولاړی ملګرې یی شیان سره سمول ویل مصطفٰی سبا سهار ته حرکت کوو بس ولا راته زنګ وهلی وو چی سبا سهار ته مو حرکت دی ماښام ته حاضر سی چی بیا سهار وختی راوانیږو ، مصطفٰی په اوږدو ساوو اخیستلو سره پر کټ ناست وو او د شهناز فکر یی کوو، کله چی ماښام سو نو دوی بستی سره سمی کړی او روان سول خو مصطفٰی خپل ملګرې ته وویل چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن ماښام د شهناز کوژده ده یوار به ورسو د لیری څخه به یی ووینم اخیری دیدن به یی وکم ملګرې یی وویل: سمده خو هو نیږدی به نه ورځې ولی چی تیر واری یی لا ډیر بی عزته کړو، مصطفٰی ویل سمده

مصطفٰی او ملګرې یی د شهناز د کور یو بغلته ودریدل او د دیوال د پاسه یی د شهناز د کوژدی مراسم کتل کله چی یی د کوژدی نکاح وتړل سوه د مصطفٰی تر سترګو اوښکی د ویالی د اوبو په څیر روان سوی څو شیبی ولاړ وه د مصطفٰی ملګرې هم مراسم څارل خو چی کله مراسم خلاص سول نو د مصطفٰی ملګرې چی بغلته وکتل مصطفٰی نه وو شاوخوا یی وکتل خو د مصطفٰی درک نه معلومیدی ناری یی پسی ووهلی خو مصطفٰی پیدا نسو.

کلونه تیر سول سرفیراز ددی موقع په تمه وو چی څنګه او څه وخت د شهناز جایداد وګټی ده او پلار به تل په همدی اړه خبری سره کولی او پلانونه به یی جوړول پلار یی ورته وویل چی سرفیرازه ته د شهناز

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلار ځخه یو څه پیسی وغواړه هغه یی هتمن درکوی ولی جی ته یی زوم یی زه خبر یم چی هغه نقدی پیسی نلری په بدل کی به یی د ټول جایداد قبالی او اسناد درکی چی دا اسناد زموږ لاسته راسی نو بیا زموږ پلانونه کامیابه سول او د شهناز دی ټول جایداد به زموږ سی.

بیا یوه ورځ سرفیراز د شهناز پلار ته وویل چی بابا زه غواړم خپل شخصی کاروبار شروع کم د هغه لپاره یو څه پیسو ته ضرورت دی ما ویل که تاسو راسره یو څه کمک وکی په دوو میاشتو کی یی بیرته در کوم،

د شهناز پلار وویل: څو دی پکار دی زویه مازی ږغ کوه،

سرفیراز وویل: بابا پنځه میلیونه می پکار دی په یوه میاشت کی یی بیرته درکوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهناز پلار ددی پیسو په یادولو سره ډیر خوابدی سو ځکه چی دده سره دومره نقدی پیسی نه وی خو بیا هم هغه یی داغسی نسوای جوابولای نو ورته یی وویل: زویه دومره زیاتی پیسی خو زما سره نسته خو زه به درته زما د جایداد اسنادونه او قبالی درکم ته یی بانک ته په ضمانت کښېږده او پیسی ځنی پور که چی یوه میاشت وروسته دی پیسی پیدا کړلی بیا یی بیرته ځنی راواخله اسنادونه ته خو به یی هم په میاشت کی ور ادا کوی اوه،

سرفیراز وویل: هو بابا په یوه میاشت کی یی بیرته هتمن ورکوم او خپل اسناد او قبالی به بیرته ځنی راواخلم،

د شهناز پلار د کور قباله او د ځمکو اسناد سرفیراز ته ورکړل سرفیراز هم ځنی واخیسته او پلان یی کامیاب سو وختونه تیریده میاشتی پوره کیدو ته د ګوتو په شمار ورځی پاته سوی وی کله چی د میاشتی اخیری ورځ سوه نو د شهناز کور ته څو موټران داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوه چوکیدار یی غوښتل مخنیوی یی وکی خو هغوی په زور سره کور ته ننوتل د شهناز پلار د کور په یو اړخ کی ناست وو مجله یی کتل چی هغوی راغلل او دده ومخته ودریدل د شهناز پلار تری پوښتنه وکړه تاسو څوک یاست او دلته چشی کوی هغوی ورته وویل چی موږ ددی کور مالکان یو او دا کور باید په دوو ورځو کی را خالی کړی، د شهناز پلار په حیرت سره ورته وویل، څنګه مالکان ستاسو په خبره نسوم پوه،

هغوی ورته وویل: دا کور پروند پر موږ یو چا خرڅ کړی نور تاسو ددی کور څخه ووځی،

د شهناز پلار وویل: څنګه خرڅ زه ددی کور مالک یم زما سره یی قباله سته دا تاسو څه وایست چی دا موږ رانیوی چا ستاسو سره مسخری کړیدی،

هغوی وویل: دا د مسخرو کار نه دی دا کور یی پروند پر موږ د قبالی سره خرڅ کړ دا یی قبالی دی که تاسو پخپله خوښه نه وځی موږ مو بیا په زور باسو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهناز پلار د قبالی په لیدو ډیر پریشانه سو او فکر یی وکړ چی دا قباله خو ما سرفیراز ته ورکړی د شهناز پلار کورته ننوتی شهناز دا سحنه د دننه څخه څارل کله چی یی پلار دننه ورغلی نو شهناز په هیرت ورته وویل چی بابا دا خلک څوک دی او څه جنجال یی جوړ کړیدی،

پلار یی وویل: زویه دا خلک وایی چی دا کور پروند موږ رانیوی او تاسو ددی کور څخه تر دوو ورځو پوری ووځی ددوی سره د کور هغه قباله هم وه چی ما و سرفیراز ته ورکړی وه چی د بانک څخه پور په واخلی ته راځه د سرفیراز کوټی ته سرفیراز ته به ووایو چی دا خلک څه وایی او دا قباله څنګه د دوی سره ده، کله چی شهناز او پلار یی د سرفیراز کوټی ته ورغلل نو ویکتل چی هغوی نسته او خپل ټول سامان یی ټول کړیدی او تللی دی ذ شهناز پلار غوښتل سرفیراز ته زنګ ووهی خو د سرفیراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

موبایل هم بند وو بیا یی د دروازی د چوکیدار نه وپوښتل چی سرفیراز او پلار یی څه سویدی

دروازه وان وویل: هغوی خو د شپی ناوخته یوی ښځی موټر پسی راوستی او ولاړل او ماته یی وویل چی شپه ناوخته ده پام چی د شهناز پلار راویښ نکړی،

ددی خبری په اوریدو سره د شهناز پلار پوه سو چی هغوی ور سره چم کړیدی نو ځکه د ډیره غمه بی هوښه سو شهناز د پلار په لیدو چغی کړلی او د بابا بابا ناری یی وهلی خو پلار یی پر هوښ نه راغلی بیا یی هغه کوټی ته بوتلی او شهناز یی سرته کښینستله او ژړل یی او د مصطفٰی هغه ورځ ور فیاد سوه چی هغه ورته ویلی وه چی سرفیراز ستا سره چم کوی هغه صرف ستا د جایداد لپاره ستا سره واده کوی او هغه بل واده هم لری، ددی یادو سره شهناز ډیر وژړل او پری شپه سوه دا لا هم هغسی د پلار و سرته ناسته وه او بیده سوی وه کله چی سهار سو نو پلار یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکښېنستی او ويکتل چی لور يی سرته ناسته ده او ډير يی ژړلی دی پلار يی پر سر لاس ور تيری وی او د سترګو يی اوښکی راغلی چی په دی وخت کی شهناز هم راکښېنسته او د پلار سره يو ځای په ژړا سوه او سرفيراز ته يی ډير بد و رد وويل،

پلار ته يی وويل: دا ټوله زما غلطی ده که می په هغه ورځی د مصطفٰی پر خبرو باور کړی وای نو نن به مو دا حالت نه ليدای هغه ماته وويل چی سرفيراز يو چمباز انسان دی هغه يوازی غواړی زموږ جايداد تر لاسه کړی خو افسوس چی ما يی په خبرو باور ونه کی،

شهناز او پلار يی همدا خبری سره کولی چی په دی وخت کی زنګ راغلی کله چی د شهناز پلار موبايل ته جواب ورکی نو د دوی د مځکو منشی وو تر روغبړ وروسته يی د شهناز پلار ته وويل: خان صاحب خيريت خو به وی ولی مو ټولی مځکی داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نابېره په نيمه بيه خرڅې کړلې ماته مو ويلې هم نه دي،

د شهناز پلار ددې خبرو په اورېدو سره نور هم غوسه سو او تليفون يې د مځکې وويشتې او مات يې کړ، شهناز ترې پوښتنه وکړه چې بابا څوک وو او څه يې ويل، پلار يې وويل چې زموږ د مځکو منشي وو ويل يې چې هغه بې غيرته زموږ ټولې مځکې هم په نيمه بيه خرڅې کړيدي، شهناز ددې خبرې په اورېدو بې هوښه سوه او د مځکې ولويدل پلار يې ژر ورته راوځغستل او پر هغې يې اوبه وشندلې تر څه ځنډ وروسته شهناز په هوښ راغله نو پلار يې په غېږ کې ټينګ کړ او چغې يې کړې پلار يې هغې ته دلسايي ورکړه او ورته يې وويل چې ته ارامه اوسه الله به يې خير کې او بيا يې پلار کټ ته پورته کړه او ورته يې وويل چې ته ارام وکه، د شهناز پلار ډېر پريشانه وو چې څه وکې او د کور خالي کولو ته يې هم يوه ورځ پاتې وه پريشانه په کور کې ګرځيدي او راګرځيدي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور هر شی ته یی په زیر زیر کتل او بیا یی خپل موټروان ته وویل چی واخله دا کیلی او دا موټر خرڅ کړه او زموږ لپاره یو کوچنی کور د اوسیدلو لپاره په رانیسه موټروان د موټر کیلی واخیستی او موټر یی خرڅ کړ او یو کوچنی کور یی په رانیوی د شهناز دی لپاره کله چی د کور د خالی کیدو وخت راغلی نو د شهناز پلار شهناز ته وویل: درځه زویه موږ باید اوس دا کور ور خالی کوو ما یو کوچنی کور رانیولی دی هلته به ولاړ سو،

شهناز په ژړا پلار ته وویل: بابا زه ددی کوره څخه نه ځم دا زما د مور کور دی ددی کور سره زما د مور یادونه تړلی دی په دی کور کی زه دی دنیا ته راغلی یم او په دی کور کی لویه سوی یم،

پلار یی وویل: خیر دی زویه موږ به یو څو ورځی په هغه کور کی ګزاره وکړو چی کارونه سم سوه موږ به بیا خپل دی کور ته راسو اوس راځه چی ځو نو هله ګرانی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز او پلار یی د خپل کور څخه په ژړا ووتل او خپل کوچنی کورته راغله کله چی دوی دی کوچنی کورته ننوتل نو ویکتل چی هغه ډیر کوچنی او چټل دی د شهناز پلار د هغی د خوشحاله کولو لپاره په خندا هغی ته وویل چی واه څومره ښکلی کور زما د لور په راتلو نور هم ښایسته سو واه ډیر ښکلی، شهناز پوه سوه چی پلار یی ددی د خوشحاله کولو لپاره داسی وایی نو دی هم د پلار د خوشحاله کولو لپاره وخندل او د پلار په غیږ کی ور ولویدل، بیا خپلو کوټو ته ولاړل همدا ورځ او شپه پر دوی په ژړا تیره سوه، سهار سو کله چی د شهناز پلار د خوب نه راکښینستی او د کوټی څخه دباندی راووتی نو ویکتل چی کور یی د هنداری په څیر ښایسته او صفا سویدی دی هیران سو چی دا څنګه او چا کړیدی د کور په مینځ کی یی د جارو وهلو ږغ واوریدی کله چی یی هلته وکتل نو ویلیدل چی شهزاده ګی د نازونو او اداګانو شاپیری شهناز جارو وهی او ژر ژر کور صفا کوی پلار یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر هیران سو او تر سترګو یې اوښکې را توی سوی او ددی نازولی ښکلی مخکینی ژوند یې ددی ژوند سره په فکر کې پرتله کوی، د سهار چای یې شهناز پخ کړی وی او د پلار مخته یې کښېښولی پلار چې یې یو غړپ وکې نو ډېر خوند یې ورکې شهناز ورته وویل: بابا زما د لاس چای یې څنګه دی خوند یې وکې، پلار یې وویل: په قسم سره درته وایم زویه چې پخپل ژوند می داسې ښایستی چای نه وی څېښلی،

څه وخت تیر سو شهناز او پلار یې په دی کور کې د ژوند شپې و ورځې سبا کولې کومې لږ پیسې چې یې درلودی هغه هم خلاصې سوی د شهناز پلار خپلو ټولو خانانو ملګرو ته ورغلی چې کمک راسره وکې خو هغوی به پیژنده هم نه د شهناز او پلار ژوند یې څو کلونه په همدی کور کې په ډېری سختې تیر سو اخیر داسې وخت راغلی چې دوی به د ماښام ډوډۍ هم نه درلوده پلار یې ضعیفه سوی وو د کار هم نه وو چې کار وکې، یوه ورځ د سهار د ناشتې پر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز پلار ته وویل: بابا ته خو پوهیږې چې ما ډیرې زده کړې کړیدې او د طب پوهنځی څخه فاریغه سوې یم زه باید د خپل علم څخه استفاده وکم چې هم به خلکو ته خدمت وکم او هم به په دې سره یو څه اندازه د کور ګزاره کوو که ستا خوښه وې بابا زه به د ځان لپاره په یو روغتون کې وظیفه ولټوم،

پلار یې وویل: سمده لورې چې څنګه ستا خوښه وې خو پام چې ځان به نه ستړې کوې چې ته ستړې سې لکه زه چې دې ستړې کړې یم،

شهناز په موسکې سوه او پلار ته یې وویل سمده بابا نه یې ستړې کوم،

شهناز تر سهار ناشتې وروسته د کار په لټه ووتل د ښار ډیرو روغتونو ته ورغلل خپل اسناد یې ور ښکاره کړه چې په اوله درجه فاریغه سوې هم وه خو هیچا هغې ته کار ور نه کړ هغه ډیره ستړې سوه او بیرته نا امیده کورته راغلل پلار یې ترې وپوښتل: څنګه سو لورې وظیفه دې پیدا کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز وویل: نه بابا خو انشاءالله ډیر ژر به یی پیدا کم یو څه وخت خو غواړی،

شهناز ځو ورځی په دنده پسی وګرځیدل خو هیڅ هغی ته وظیفه ورنکړه، یوه ورځ یی پلار کور کی مجله کتل چی د هیواد د یو ستر روغتون د کارمندنی خبرتیا یی پکښی ولیدل شهناز ته یی وویل: شهناز لوری ته راسه دا وګوره په مجله کی د روغتون د کارمندنی خبرتیا راغلی ده، شهناز چی کله هغه مجله د پلار څخه واخیسته نو پکښی د هیواد د ستر روغتون په اړه معلومات او د کارمندنی خبرتیا وه مجله کی لیکل سوی وه چی دا روغتون د هیواد د یو ستر او بی مثله او ځوان تجار لخوا جوړ سویدی او یوی ښځینه ډاکټری ته پکښی ضرورت دی،

شهناز پلار ته وویل: بابا دا د هیواد تر ټولو ستر روغتون دی په دی کی یوازی هغه څوک وظیفه کولای سی چی واسیطه ولری،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار یی وویل: لوری ته خو ورسه شاید در یی کړی او بیا ته خو ماشاءالله ډیره لایقه یی په لومړی درجه فاریغه سوی یی دوی تاته اړتیا لری،

شهناز د پلار خبره ومنل او ویویل چی سبا به ورسم او د روغتون ور تلو ته اماده سوه، کله چی سبا سو نو شهناز د وظیفه په لټه د کوره ووتل د خپل کور د لیدو لپاره پر هغه لار ولاړل چیری چی د دوی کور وو د کور په لیدو یی تر سترګو اوښکی وبهیدلی څو شیبی هلته ولاړه وه چی نابېره په دی وخت کی څو موټران چی هنداری یی توری وی د دوی و کورته داخل سول د موټرانو په لیدو ټول خلک هیران سول او یو و بل ته یی ویل چی دا د هیواد د تر ټولو لوی او ځوان تجار موټران دی شهناز دا خبری اوریدی او څو شیبی هلته ولاړه او فکر یی کاوه چی ددی تجار او زموږ د کور یی سره څه خو څو شیبی وروسته بیرته د وظیفی پر لور روانه سوه روغتون ته ورسیدل روغتون ډیر غټ وو شهناز ددی روغتون و نامه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیرانه سوه چی پر یو غټه لوحه یی نوم لیکلی وو ( حیثیت معالجوی روغتون) څو شیبی یی دی لوحی او روغتون ته کتل فکر یی کاوه چی زما وظیفه په دی ځای کی ناممکینه ده خو بیا هم د پلار غوښتنه به ومنم، روغتون ته ننوتل د معلوماتو و څانګی ته د وظیفی په اړه د معلوماتو لپاره ورغلل هلته یی وکتل چی د حیثیت روغتون د معلوماتو د څانګی مسؤله ددی همصنفی وه هغی د شهناز په لیدو زیاته دلچسپی وښوول او شهناز ته ور ولاړه سوه او ټینګه یی په غیږ کی ونیول تر روغبړ وروسته د معلوماتو د څانګی مسؤلی شهناز ته وویل: شهناز ستاسو په کیسه خبره سوم واقعیت چی ډیره خواشینی سوم بس د تقدیر پریکړی دی شهناز خو ته راته ووایه چی ته دلته څه کوی ناروغه خو نه یی؟

شهناز وویل: نه ناروغه نه یم پروند می په مجله کی د کارمندنی خبر ولیدی وظیفی ته می اړتیا وه نو ځکه می اوس د وظیفی لپاره خپل اسناد راوړل ما ویل که

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی وظیفه راکړه ځکه چی زه وظیفی ته ډیره اړتیا لرم،

همصنفی یی وویل: شهناز د هغی وظیفی د ختمیدو نیټه خو دا دوی ورځی کیږی چی ختمه سویده تقریباً سلو ډاکټرانو ورته اسناد سپارلی دی او هغوی د ډیرو غټو خلکو لوڼی هم دی شاید لومړیتوی هغو ته ورکی،

شهناز ورته وویل: ته خو پوهیږی چی موږ د ډیرو مشکلاتو سره مخ یو او زه دی وظیفی ته ډیره اړتیا لرم ته خو شناخت دلته لری ته ورتهووایه چی دا وظیفه ماته راکړی دا به دی پر ما یو لوی احسان وی،

همصنفۍ یی وویل: شهناز زه هیڅ ولاکه کولای سم ګرانی زه خو خپله دلته یو کارکوونکی یم او بیا خو دی وظیفی ته ما وویل چی د غټو خلکو لوڼو اسناد سپارلی دی لومړیتوب به لومړی هغو ته ورکوی خو خیر ته دی اسناد راکه زه به کوښښ وکم چی ستا اسناد هم د هغو سره یو ځای کم تر اوسه لا ریس

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب د هغو اسناد نه دی کتلی او زموږ ریس ډیر مهربانه ځوان دی هغه به یوازی لایقه ډاکټره انتخابوی،

شهناز وویل: مننه ګرانې دا احسان به دی هیڅکله هیر نکم،

د دوی د خبرو په جریان کی هغه موټران د روغتون ومخته ودریدل چی شهناز د خپل کور ومخته لیدلی وه یو موټر چی څو موټران یی مخته وه او څو شاته د روغتون ومخته ودریدل ساتونکو یی ژر هغه ته دروازه ورخلاصه کړه او یو نفر تری راکښته سو خو د ډیرو ساتونکو له وجی چا نسوای لیدلای همداسی د ساتونکو په مینځ کی خپل دفتر ته چی د روغتون په لوړ منزل کی وو وختی شهناز او همصنفی یی دی صحنی ته کتل شهناز غوښتل هغه وويني خو وينسوای کولای چی هغه ووینی،

شهناز د خپلې همصنفۍ څخه وپوښتل چی ددی روغتون مشر څوک دی هغی ورته وویل چی ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتون مشر د هیواد تر ټولو ستر او ځوان تجار دی چی خلک وایی ډیر په لږ وخت او کم عمر کی یی دی مقام ته ځان رسولی دی همدا اوس چی راغلی همدا وو خو تر اوسه په دی روغتون کی د ساتونکو او مدیر ماسیوا بل هیچا نه دی لیدلی ما هم نه دی لیدلی.

شهناز خپلی همصنفۍ ته وویل چی ددی روغتون نوم ولی حیثیت ایښودل سویدی، هغی ورته وویل چی دا نوم همدی مشر پر ایښی دی خو دده په شخصی ژوند هیڅوک هم نه دی خبر او نه هم دی چاته د شخصی ژوند په اړه څه وایی خو ځینو وایی چی دا نوم یی ځکه پر ایښی دی چی دلته د غریبو او خانو خلکو علاج یو رکم کیږی هغه هم بلکل وړیا وای مشر وایی چی ماته د خان او غریب حیثیت یو ډول دی،

شهناز او ملګری یی د څو شیبو باندار وروسته خدای په امانی سره واخیستی او شهناز خپل اسناد هغی ته ورکړل او ځینی ولاړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهناز همصنفۍ د شهناز اسناد پټ د نورو ډاکټرانو د اسنادو سره کښیښوول، څو شیبې وروسته د روغتون مشر د روغتون مدیر ته زنګ ووهی چې د هغو ډاکټرانو اسناد دفتر ته راوړه چې د وظیفې لپاره یې پیشنهاد کړی وو، د روغتون مدیر اسناد چې د شهناز د همصنفۍ په شعبه کې پراته وه واخیستل او د روغتون مشر ته یې ور وړل ته یې ور وړل د شهناز اسناد تر ټولو اسنادو لاندې پراته وه

د روغتون مشر اسناد د لومړی سر نه کتل کرار کرار یې اړول چې اخیر سترګی سو او د یوی ډاکټری اسناد چې اوله درجه او د یو غټ پوهنتون څخه فاریغه وه جلا کړل او ندیر ته یې وویل چې ایا ددی ډاکټری سره تا مرکه کړیده هغه په هغه لیست کې چې ډاکټرانو ور سره مرکی کړی وی وکتل هلته یې ولیدل چې هغې مرکه کړی وه نو ویویل: هو ریس صاحب ددی سره مو مرکه کړیده او بریالی سوی وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روغتون مشر ورته وویل: همدا را وغواړه د وظیفی لپاره،

کله چی مدیر د ریس مخته پراته اسناد ټولول په دی وخت کی د ریس سترګی د شهناز پر اسنادو ولګیدلی او هغه یی د مدیر د لاسه واخیستل او هغه ته یی ډیر په زیر زیر کتل بیا یی د مدیر څخه پوښتنه وکړه چی دا څوک ده هغه چی کله د شهناز اسنادو ته وکتل نو ورته ویویل: نه پوهیږم چی دا اسناد د کومه راغلی دا خو زما سره په لیست کی نه وه، ریس تری پوښتنه وکړه اسناد خو ستا سره وه اوه؟ مدیر وویل: هو زما سره وه خو بیا ما د معلوماتو د څانګې مسؤلی مسکاه ته ورکړه د هغې سره پراته وه د هغی په څانګه کی شاید هغی پکښی ایښی وی، ریس ورته وویل؛ ورسه هغه راوله لږ ژر، مدیر په خواشینی سره د معلوماتو و څانګی ته داخل سو او مسکا ته یی وویل: ایا د کارمندنی په لیستونو کی دا نوی اسناد تا ایښی وه، مسکا په ریږدیدلی ږغ ورته وویل: هو مدیر صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زما د همصنفۍ اسناد وه هغې ماته ډیری زاری وکړی, مدیر هغی ته وویل: راځه اوس خو دی کار خراب کړیدی ریس صاحب ته ډیر درد ورغلی دی هغه غوښتی یی راځه، مسکا ډیره خوابدی سوه او په عینی حال کی خوشحاله هم سوه ځکه د ریس د لیدو موقع په لاس ورغلی وه کله چی د ریس دفتر ته ورغله د ریس په لیدو یی اجازه اخیستل هیر سوه ورغله او د ریس مخته ودریده د هغه د ښایست څخه یی مخ نه اوښتی ریس ورته خبری کولی خو ددی صرف دده په ښایست کی فکر وو ریس ته درد ورغلی او په لوړ اواز یی پر ناره کړه چی زه تاته خبری کوم ستا فکر چیری دی، مسکا فکر ورته راواړوی او ریس ورته وویل چی دا اسناد چیری وه او د چا دی هغی ورته د شهناز ټوله کیسه وکړه، ریس هغی ته وویل ایا ستا سره د هغی عکس سته، مسکا ورته وویل نه ریس صاحب نسته راسره خو هغه دلته روغتون ته راغلی وه چی ماته یی ددی وظیفی وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاید د روغتون په محافظتی کیمرو کی یی عکاسی وی، ریس مدیر ته وویل چی هله ورسه د کیمرو د څانګی مسؤل ته ووایه چی د تیری ورځی د معلوماتو د څانګی عکاسی ماته راوړی کله چی یی ریس ته د تیری ورځی عکاسی راوړل مسکاه ریس ته شهناز ور وښوول ریس د هغه په لیدو ډیر خوابدی سو مخ یی تک سور سو او د شهناز د کیسی په اوریدو ډیر پریشانه سو او د شهناز ملګرې ته یی وویل خیر ورسه خو بیا داسی پر خپل سر کارونه مکوه، هغی ورته وویل سمده ریس صاحب،

سبا چی کله ریس دفتر ته راغلی نو مدیر ته یی وویل چی هغه اسنادو ولا چی د معلوماتو د څانګی مدیری راغوښتی وه هغی ته زنګ ور ووهه او وظیفی ته یی را وغواړه، مدیر ورته وویل چی ریس صاحب خو تا پروند هغه بله ډاکتره رایاده کړه ما هغی ته زنګ ور ووهی، ریس ورته وویل چی اوس ما بیرته خپله فیصله واړول، مدیر ورته وویل: ریس صاحب هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

والی صاحب خور ده هغوی به بیا جنجال وکی، ریس ته درد ورغلی او په ډیر درد یی ورته وویل: ما چی څه وویل هغسی وکه، ریس د معلوماتو د څانګی مسؤلی او د شهناز ملګرې مسکا ته زنګ ووهی هغی چی کله موبایل اوکی کړ چی د ریس ږغ یی واوریدی نو ډیره خوشحاله او هیرانه سوه چی ریس صاحب ماته څنګه زنګ وکی، ریس هغی ته وویل چی زما دفتر ته راسه، کله چی مسکا د ریس دفتر ته ورغله نو په مینه یی د ریس څخه اجازه وغوښته ریس هم د هغی په ورین تندی هرکلی وکړ او هغی ته یی وویل چی ته د نن نه پس د روغتون د ښځینوو د څانګې مدیره یی د هغه ځای ټول مسؤلیت ستا په غاړه دی مسکاه ددی خبر په اوریدو ډیره هیرانه سوه او خوله یی خلاصه پاتی سوه او ډیره خوشحاله سوه، ریس هغی ته وویل: او هو هغی ملګرې ته به دی ووایی چی سر د سبا څخه خپلی وظیفی ته حاضره سی د روغتون د ټولو قوانینو، مقرراتو او اصولو څخه یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره که دا هم ستا مسؤلیت دی چی هغی ته دا هر څه ور وښیی اوس تلای سی،

مسکاه تر وظیفی وروسته د شهناز کورته د خوږو سره ورغله او شهناز یی ټینګه په غیږ کی ونیول او ورته یی وویل: ګرانی ستا قدم پر ما ډیر بختور سو چی ته روغتون ته راغلی پوهیږی ما ته یی هغه وظیفه راکړه چی ما یی فکر لا نه وو کړی خو ریس دومره راباندی مهربان سو چی اوس یی زه د ښځو د ځانګی مدیره کړم، شهناز هغی ته مبارکی ورکړه او ورته یی وویل: او زما وظیفه څنګه سوه ایا اسناړ تا ورته وسپارل؟

مسکاه وویل: ایی زما ګرانی شهناز ستا په برکت زما وظیفه لوړه سوه نو تاته به یی وظیفه څنګه نه یی درکړی تاته یی هم ګرانی وظیفه درکړه، شهناز او مسکا دواړو بیا په غیږ کی ټینګ سره ونیول او یو و بل ته یی خواږه په خوله کی سره ورکړه د شهناز

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار هم ډېر خوشحاله سو او شهناز ته يې وويل: لورې ما نه وه درته ويلي چې ته ډېره بختوره او لايقه يې،

کله چې د خوارړو ورکړه خلاصه سوه مسکاه شهناز تر لاس ونيول او په يو کوټه کې يوازې کښېنستل مسکاه په کراره سره وويل: شهناز پوهېږې زما د پاره بل او تر ټولو خوشحالونکې خبر څه وو؟ زما د خوشحالې بل تر ټولو ستر خبر دا وو چې ما د ريس سره وليدل افف ګرانې ارمان چې تا ليدلې واى دومره ښايسته څيهره او دومره ښکلې ځوان خو ما په خوب هم نه وو ليدلى هغه په ډېر کم عمر دى ځايته ځان رسولى وو پوهيږې په دا کم عمرى د هيواد په ټولو ښارونو کې مارکيټونه، کمپنۍ، کار خانې او هوټلونه لرى خو هيڅ مغروره نه دى په دى سره، خو شهناز زه د يوى خبرى په اړه فکرمنه يم او پوښتنه راته پيدا سوه هغه ته چې ما ستا کيسه وکړه چې د دوى سره داسى وسوه هغه ډېر پريشانه سو او ستا د عکس ليدو ته ليونى سو بيا مى ستا عکس د محافظتى کيمرو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورښکاره کې هغه چې ما و تا بانډار کوی تر اول واری زیات بیا پریشانه سو هغه خو هغه ښځینه ډاکټره انتخاب کړی وه د والی د کورنی وه خو هغه یی لغوه کړه تاته یی وظیفه درکړه نه پوهیږم هغه ولی پر تا دومره مهربانه سو؟

شهناز وخندل او ورته یی وویل: شاید مسکاه زموږ د ژوند کیسې غمجن کړی وی،

د دوی د خبرو په جریان کې د کور دروازه وټکیدل د شهناز پلار ور ووتی چې وګوری څوک دی شهناز او مسکاه هم د کوټی څخه دباندی را ووتل او د پلار او د خلکو تر منځ یی خبرو ته غوږ ونیوی څو خلک راغلی وو او د شهناز پلار ته یی وویل: محترم ایا دا د شهناز فهیم کور دی؟ د شهناز پلار ورته وویل: بلی هو هغه زما لور ده خیریت وو؟

هغو خلکو سره یو موټر خوراکی شیان وه او د شهناز پلار ته یی وویل: محترم موږ د حیثیت روغتون مشر را استولی یو چې باید دا خوراکی شیان در تسلیم کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا يو څه اندازه نقدي پيسې هم واخلې مزدورانو ته يې وويل دا شيان ددې محترم كورته يوسې، مسكاه ددې خبرو په اوريدو شهناز په ځنګ ووهل او سره ويخندل، د شهناز پلار د هغو ښځه مننه وکړه هغو د تلو په وخت کې ورته وويل: محترم مشر صاحب ويلې دي چې هر څه ته ضرورت ولرې موږ ته ويلای سې موږ مو په خدمت کې يو، د شهناز پلار يو ځل بيا د هغو ښځه مننه وکړه ورته يې وويل: مشر صاحب ته مو ووايست چې ستاسو د ښه والی صفتونه خو مې ډير اوريدلي وه خو دا دي نن مې عملاً وهم ليدل مننه دا احسان به مو هيڅكله نه كم در ادا،

د شهناز پلار كورته دننه سو او مسكاه ته يې وويل: مسكاه لورې ستاسو مشر رښتيا هم ډير ښه سړی دی د هغه ډير صفتونه مې اوريدلي وه خو دا دي نن مې وهم ليدل كله چې ور سره مخ سوی نو زما سلام هتماً ورته ووايه او زما د خوا ترې ښه ډيره مننه هم وكه، مسكاه ورته وويل: سمده بابا هتماً،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکاه شهناز ته په موسکی وویل: شهناز سبا دی بیا وظیفی ته پر وخت راسه مشر ډیر قانونۍ سړی دی او مشر ماته امر کړیدی چی باید تاته د روغتون په اړه ټول معلومات درکم، شهناز وویل: سمده ګرانی ان شاء الله پر وخت به درسم،

سبا شهناز روغتون ته ولاړل د روغتون کارکوونکو د هغی ښه راغلاست په ګلانو سره وکی شهناز ډیره هیرانه سوه او د مسکاه نه یی پوښتنه وکړه چی دا هر څه څه دی ایا تاسو هری ډاکټری ته داسی ښه راغلاست وایست، مسکاه وویل: نه ګرانی دا په لومړی ځل وینم خو دا هر څه د مشر کار دی دا ټول ترتیبات مشر نیولی دی نه پوهیږم چی ولی هسی نه پر تا مین سوی یی، شهناز مسکاه په څنګ ووهل او ورته یی وویل: چپ سه لیونی زما و د هغه دا ډیره سره لیری ده ته زما حیثیت ته وګوره او ته د هغه، مسکاه شهناز پر ټول روغتون وګرځول، د روغتون مشر پخپل دفتر کی غونډه درلوده چی دده د دفتر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځارونکې کیمره کې یې د شهناز تصویر ولیدی ټول فکر یې په شهناز کې وو غونډه تری هیره سوه او د شهناز په لیدو یې تر سترګو اوښکې راغلې په دفتر کې ناستو غړو خبرې ورته کولې خو دده فکر یوازې په شهناز کې وو هغوی پرې لوړ ږغ وکړ او دی یې ځانته متوجې کړ،

د شهناز اوله ورځ د روغتون په پیژندلګلوی کې تیره سوه کله چې ماښام کورته تله د روغتون مخته موټر ورته ولاړ وو موټروان شهناز ته وویل چې ریس صاحب آمر کړیدی چې زه باید تاسو تر کوره پوری ور رسوم شهناز ډیره هیرانه سوه چې دا ریس زما څومره خیال ساتی اخیر څه خبره ده، موټروان شهناز تر کوره پوری را ورسول، سهار چې کله شهناز وظیفې ته تله نو بیا موټر یې د کور ومخته ولاړ وو موټروان شهناز ته وویل چې راځې مهرباني، روغتون ته په لار کې شهناز د خپل کور ومخته تیریدل چې خپل کور یې ولیدی ډیره پریشانه سوه کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې خپل دفتر ته ولاړل هلته يې تولـه ورځ په ژړا تيره کړه، ريس ددی دفتر د څارونکی کيمری له لاری څاره هغه وليدل چې شهناز ډيره پريشانه ده ريس هم ډير پريشانه سو، چې د شهناز خپګان ليری کړی ريس د هغی دفتر ته زنګ ور ووهلی شهناز د څه ځنډ وروسته موبايل اوکی کړ او د سلام يې ورته ووايه ريس د هغی ږغ بيداره کړ داسی سو لکه نوی ژوند چې يې پيدا کړی وی بيا يې د سلام جواب ورکړ او په مينه يې شهناز ته وويل: اغلۍ شهناز زه د روغتون مشر خبری کوم دا وخت زه وينم چې ته ژاړې پوښتلای سم چې ولی ايا تاسو ته دا وظيفه خوند نه در کوی او که مو دفتر نسو خوښ؟

شهناز ژر خپلی اوښکۍ پاکی کړی او شاوخوا يې وکتل چې ريس ما د کومه ځايه وينی بيا يې څارونکی کيمره وليدل، ريس ته يې وويل: وبخښی ريس صاحب نه مې ياست پيژندلی وبخښی، نه نه ريس صاحب دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وظیفه ماشاءالله ډیر خوند راکوی ډیره می خوښه ده او دا دفتر هم ډیر ښکلی دی،

ریس وپوښتل: نو اغلۍ شهناز بیا مشکل څه دی؟

شهناز وویل: هیڅ مشکل نه دی ریس بس همداسی د کورنیو ستونزو لکبله می تر ستر ګو اوښکی راغلي،

ریس وویل: اغلۍ شهناز چی هر څه ته ضرورت ولری مازی ماته زنګ را وهه مسکاه جانی راته ستاسو کیسه وکړه واقعیت چی زیات خواشینی سوم،

شهناز وویل: نه نه ریس صاحب مننه کوم فعلاً خو څه ته ضرورت نلرو تاسو خو پوره د یوی میاشتی شیان کورته را واستول ستاسو احسانات به هیڅکله هیر نکړم ډیره ډیره مننه ریس صاحب،

ریس وویل: نه اغلۍ شهناز دیته احسان مه وایه او په دی کار سره نه هم تاسو زما پوروړی یاست دا خو زما ایمانی وظیفه ده چی باید ستاسو سره می مرسته کړی وای زه بیا هم درته وایم چی هر څه ته ضرورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولړی راته وویست زه په دی خوشحاله کیږم او که مو چیری څه ته اړتیا درلوده او نه مو راته وویل بیا به در څخه ډیر خوابدی سم،

شهناز وویل: مننه محترم ریس صاحب انشاءالله که مو څه ته اړتیا سوه نو بیا درته وایم،

وروسته شهناز او ریس خدای په امانۍ سره واخیستی او موبایل یی بند کړ، د روغتون ریس د شهناز همصنفۍ مسکاه را وغوښته او هغی ته یی وویل: مسکاه جانۍ یو څو خبری درته کوم هغه به یوازی زما او ستا تر منځ وی چی کوم څوک در څخه خبر نسی که خبر سو بیا به ډیر در څخه خوابدی سم،

مسکاه په موسکۍ لهجه وویل: سمده ریس صاحب هیچاته هم نه وایم،

ریس مسکاه ته وویل: مسکاه دا ستا ملګرې شهناز ولی هر وخت چی دفتر ته راسی خوابدی وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسکاه وویل: ریس صاحب هغه چی کله سهار دفتر ته د کور څخه راځی نو په لار کی خپل پخوانی کور وینی نو ځکه پریشانه سی هغه کور د شهناز د مور نبنانی وه د هغی د مور یادونه وه پکبنی خو هغه بی غیرته د شهناز کوژدن هغو ته هیڅ هم نه ور پریبنوول،

ریس وویل: مسکاه ایا په راتلونکی څو ورځو کی د شهناز کومه د خوشحالی ورځ سته چی هغه پکبنی ډیره خوشحاله وی؟

مسکاه وویل: هو ریس صاحب راتلونکی د جمعی ورځ د شهناز د زیږیدو ورځ ده د هغی کلیزه ده،

مسکاه او ریس څو نوری خبری هم سره وکړی د شهناز په اړه او مسکاه ته یی وویل چی پام په دی خبرو شهناز در څخه خبره نسی هغی ور سره وعده وکړه چی نه به خبریږی، کله چی د شهناز کلیزی ته یوه ورځ پاتی وه شهناز د روغتون څخه د دوو ورځو رخصت واخیستی شهناز او پلار دواړه د کلیزی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیاریو بوخت وه چی د کور دروازه وټکیدل د شهناز پلار چی ور ووتی ګوری چی هم هغه د د روغتون د ریس مرستیال وو چی څه موده مخکی یی د دوی کورته د روغتون د ریس لخوا شیان راوړی وه تر روغبړ وروسته هغه د شهناز پلار ته وویل: محترم زموږ ریس صاحب خبر سویدی چی سبا د اغلیۍ ډاکټر صاحبی شهناز کلیزه ده ریس صاحب په ښار کی یو غټ د واده صالون لری ریس صاحب غواړی چی د شهناز د کلیزی مراسم دی هلته که ستاسو خوښه وی ولمانځل سی،

د شهناز پلار وویل: زویه موږ غریبان خلک یو په دومره لوی صالون کی د مراسمو د لمانځلو وس نلرو،

د ریس مرستیال وویل: محترم ریس صاحب د هر څه امکانات برابر کړیدی هغه ماته ووی چی که تاسو قبوله کړه نو شهناز ته ووایست چی د هغی ټوله ملګرې او خپلوان مراسمو ته راوغواړی ریس

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب تقریباً د پنځو زرو کسانو بندوبست کړیدی واخلی همدا یی کارډونه دی،

د شهناز پلار ډیر خوشحاله سو او د ریس مرستیال ته یی وویل: چی ریس ته ووایه چی دی هر څه ته څه اړتیا وه هغسی هم تاسو زموږ سره ډیره همکاری کړیده ریس صاحب ته ووایه چی دا احسانات به مو هیڅکله نه کم هیر،

کله چی د شهناز پلار هغی ته دا ټوله کیسه وکړه شهناز ډیره خوشحاله سوه او خپلو ټولو ملګرو ته یی د دعوت کارډونه ور واستول، کله چی ماښام سو د روغتون ریس هغی ته زنګ ووهی او ورته یی وویل: مننه کوم اغلئ شهناز چي زما غوښتنه مو ومنل او د کلیزی مبارکی درته لومړی زه وایم کلیزه دی مبارک سه اغلئ شهناز،

شهناز په مینه ناکه لهجه ورته وویل: مننه ریس صاحب خو دی هر څه ته څه ضرورت وو ولی مو ناحقه دومره لوی مصرف وکی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریس وویل: اغلۍ شهناز ستا په ژوند کی دومره لویه خوشحالی چی په ټول کال کی یوه ورځ راځی هغه خو باید په شاندارو مراسمو ولمانځی دا مصرف خو ستا لپاره هیڅ هم نه دی،

شهناز وویل: ښه ریس صاحب نو لومړی د دعوت کارد تاسو ته درلیږم او ښه ریس صاحب تاسو به ماته په تحفه کی څه راکوی زه خو تحفه هم درنه غواړم اغسی خو تاسو زموږ سره دومره مرستی او همکاری وکړی چی په نړی کی هیچا دومره لویه او ښکلی تحفی نه وی ورکړی خو د کلیزی تحفه بیا جلا در څخه غواړم،

ریس وویل: یو کوچنی تحفه خو ما درته اخیستی ده نه پوهیږم چی ستا به خوښه سی او که نه،

شهناز وویل: هغه به بیا د تحفی وروسته درتع ووایم ریس صاحب ښه نو ریس صاحب سبا زه تاسو او ستاسو تحفی ته سترګی په لاره یم باید لومړی تاسو راسی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریس او شهناز په مینه خدای په امانئ سره واخیستی شهناز خپلو ټولو ملګرو او خپلوانو ته د کلیزی د مراسیمو کارډونه ولیږل د کارډونو سره سره به یی ملګرو ته ویل چی دا میلمستیا د هیواد د تر ټولو غټ د واده په صالون کی ده او د هیواد د تر ټولو د ځوان تجار او زما د ریس لخوا نیول سویده د هغه په صالون کی د شهناز ملګرې ډیر خوشحاله سوی او په تلوار سره به هری ملګرې ورته وویل چی موږ ستا د ریس ډیر صفتونه اوریدلی دی چی هغه داسی ښایسته ځوان تجار دی چی ښایست ته یی ډیر خلک هیران دی ایا هغه هم دی میلمستیا ته راځی رښتیاووایه، شهناز به هغو ته وویل: هو خامخا راځی هغه دا میلمستیا نیولی ده نو هغه به هتماً وی پکښي، ملګرو یی وویل: سمده نو بیا هتماً در ځو ځکه موږ د هغه لیدو ته ډیری لیوالی یو،

میلمستیا جوړه سوه ټول میلمانه را ورسیدل د شهناز همصنفی مسکاه او ریس لا نه وه راغلی د شهناز

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو به هر ځل د شهناز څخه پوښتل چې ستا ریس لا ولی نه راځی شهناز به ورته وویل: تاسو لږ صبر وکی رابه سی، مسکاه د روغتون څخه د میلمستیا په لور روانه وه چې ریس خپل دفتر ته وغوښتل او یو کوچنی تحفه یی ورکړه چې په ښکلی پوښ کی پوښل سوی وه او ورته یی وویل: مسکاه دا تحفه واخله او شهناز ته یی ورکه چې ریس دا تحفه ستا لپاره راکړه ورته ووایه چې ریس د یو ضروری کار لپاره د ښار څخه دباندی ولاړی،

مسکاه ورته وویل: ریس صاحب شهناز خو ماته وویل چې تاسو ور سره وعده کړیده چې ورځی میلمستیا نو بیا ولی نه ورځی او تاسو خو همدلته یاست؟

ریس وویل: هو ما د شهناز سره وعده کړی وه چې زه در ځم خو نن زما طبعیت نه دی سم او په کور کی کارونه هم زیات دی خو ته شهناز ته ووایه چې هغه د ښار څخه دباندی ولاړی په یو ضروری کار پسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه که ورته ووایی چی په کور یا دفتر کی دی زه هغه ضدی پیژنم هتماً به په ما پسی دلته راسی،

مسکاه په تعجب سره ورته وویل: ریس صاحب تا خو تر ننه د شهناز سره مخامخ خبری لا نه دی کړی نو ته بیا هغه څنګه پیژنی چی ډیره ضدی ده ایا تاسو هغه د پخوا څخه پیژنی،

ریس په وارخطایی سره وویل: نه نه زما مطلب دا وو چی شهناز د خبرو څخه راته معلومه سوه چی ډیره ضدی ده،

مسکاه پر ریس باندی څه شکمنه سوه چی یو خبره سته چی ریس یی زما و د شهناز څخه پټوی نو ځکه د شهناز سره هم نه مخامخ کیږی، خو دا هر څه مسکاه د شهناز نه پټ ساتلی وو د ریس نه یی تحفه واخیسته او د شهناز میلمستیا ته ولاړه او د ریس سره یی وعده وکړه چی دا به شهناز ته هغه څه وایی چی ریس یی ورته وایی، شهناز او ملګرې یی د ریس په انتظار دی کله چی مسکاه میلمستیا ته راورسیدل نو شهناز

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بی صبری سره ورته وویل: ریس صاحب چیری وو ایا هغه نه در سره راغلی،

مسکاه ورته وویل: نه هغه د یو ضروری کار لپاره د ښار څخه دباندی ولاړی او داغه تحفه یی ستا لپاره راکړه،

شهناز او ملګرې یی ډیر خوابدی سول او په خوابدتیا سره یی د کلیزی مراسم ولمانځل، سهار شهناز د کلیزی د تحفو سره یو ځای ناست وه او د ریس تحفه یی هغسی بنده په لاس کی نیولی وه او ډیره خوابدی ناسته وه مسکاه هم ور سره ناسته وه په دی وخت کی د شهناز موبایل ته زنګ راغلی کله چی شهناز وکتی نو ریس وو شهناز پر ریس باندی موبایل کاټ کړ جواب یی نه کی ور ریس بیا زنګ ورته را ووهلی خو شهناز بیا پر بند کړ کله چی د شهناز موبایل بند سو ریس د مسکاه موبایل ته زنګ ووهی او هغی ته یی وویل چی شهناز در سره سته؟ مسکاه وویل هو ریس صاحب همدا ده بغلته می ناسته ده ډیره خوابدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده در ځخه ریس ورته وویل ورته ووایه چې ډیره ډیره بخښنه غواړم هیله کوم ومی بخښه ډیر ضروری کار راپیښ سو که نه هتماً در تلم، ریس مسکاه ته وویل چې موبایل شهناز ته ورکه، شهناز چې د ریس خبری واوریدی نو غوسه یې لیری سوه او د مسکاه ځخه یې موبایل واخیستی او ورته یې وویل: تا زما سره وعده کړی وه چې زه در ځم ما ټولو ملګرو ته ویلی وه چې تاسو راځی خو تاسو نه راغلاست زه دی د هغو ومخته وشرمولم،

ریس ورته وویل: شهناز ډیر ضروری کار می وو که نه هتماً درتلم اوس می وبخښه نو، یو میاشت وروسته زما کلیزه ده بیابه دی هغه ته ملګری را وغواړی او شهناز دا راته ووایه چې تحفه دی خوښه سوه،

شهناز وویل: تر اوسه می نه ده کتلی خو ډیره کوچنی راته معلومیږی،

ریس وویل: دا به وروسته در ته معلومه سی چې دا کوچنی تحفه تا ځومره خوشحاله کوی او زه سل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلو کی مطمین یم چی ته به ډیره خوشحاله سی ته یی مازی خلاصه که ما یو کوچنی خط هم ور سره ایښی دی،

شهناز د ریس سره تر خدای په امانۍ وروسته تحفه خلاصه کړه ویکتل چی په یو قطعی کی یو غټه کیله پرته وه چی لاندی یی خط هم پروت وو شهناز کیلۍ په تعجب سره راپورته کړه او بیا یی خط خلاص کړ په خط کی لیکلی وو ' اغلۍ شهناز ستا لپاره د نړی ستره تحفه هم ډیره کوچنی ده ما خو بل څه نکړه پیدا نو دا کوچنی ډالی می ستا لپاره انتخاب کړه ستاسو د مور جانی یادوګار ستاسو پخوانی کور خدای دی وکی چی دا تحفه مو خوښه سوی وی '، ددی خط په ویلو سره شهناز یو دم د خوشحالی ناری کړی او په خندا سره یی پلار ته ور وځغستل او ورته یی وویل: بابا بابا وګوره زما ریس ماته په تحفه کی څه را استولی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار یی د مینی په لهجه ورته وویل: دا خو کیلۍ ده لوری،

شهناز وویل: بابا دا کیلۍ پوهیږی د څه ده دا کیلۍ زموږ د کور ده بابا،

پلار یی هم ددی خبر په اوریدو ډیر خوشحاله سو او د ډیری خوشحالیه یی تر سترګو اوښکی راغلی او شهناز یی ټینګه په غیږ کی ونیول، دروازه وټکیدل د شهناز پلار چی ور ووتی ګوری چی د ریس مرستیال ولاړ دی د شهناز پلار د ډیری خوشحالیه هغه ټینګ په غیږ کی ونیوی او په ژړا کی یی ورته وویل: پوهیږی زویه ستاسو مشر نن کم کار وکی هغه زما لور ته نوی ژوند ورکړ د هغی هیلی یی را ژوندی کړی د هغی پر مخ یی د کلونو وروسته خندا راوستل،

مرستیال ورته وویل: محترم زه راغلی یم چی ستاسو سره ستاسو کورته د شیانو په وړلو کی مرسته وکم،

د شهناز د کور شیان یی سره ټول کړه په موټر کی یی واچول او د زاړه کور پر خوا یی رهی سول کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی هلته ورسیدل هغو کسانو چی مخکی یی د شهناز دی کور رانیولی وو د کور ښځه د وتلو په حال کی د شهناز پلار ته وویل: محترم مورږ ډیره بخښنه غواړو که مورږ خبر وای چی تاسو د ریس صاحب خپلوان یاست نو هیڅکله به مو داسی بی ادبی نه وای در سره کړی هغه زمورږ مشر دی هیله کوم هغه ته زمورږ د بی ادبی په باره کی مه وایست مورږ وبخښی، د شهناز پلار هغو ته په مسکا سره بخښنه وکړه او خپل کورته داخل سو،

ریس د شهناز د کور رانیونکی خپل دفتر ته را غوښتی وه د ښار امنیه قومندان هم هلته شتون درلودی ریس هغو ته وویل: زه ستاسو ښځه یو پوښتنه کوم که مو رښتیا راته وویل انعام هم درکوم هر څومره پیسی چی غواړی درکوم یی خو که مو نه راته وویل نو سیده به مو امنیه قومندان صاحب محبس ته واستوی او چی تر څو مو نه یی راته ویلی تر هغه وخته به په محبس کی یاست او شکنجی به درکول کیږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ډیر وارخطا سول او په لړزیدلی اواز یی ورته وویل: سمده ریس صاحب موږ رښتیا درته وایو،

ریس ورته وویل: کوم کور کی چی تاسو اوسیدلاست هغه پر تاسو چا په نیمایی بیه خرڅ کړ او هغه اوس چیری اوسیږی؟

هغوی ډیر وارخطا سول او په ژړغونی اواز یی ورته وویل ریس صاحب هغه نفر موږ نه پیژندی چی دا کور یی پر موږ خرڅ کړی وو هغه پیسو ته اړتیا درلوده نو ځکه یی پر موږ هغه کور په نیمایی بیه خرڅ کړ موږ نه یو خبر چی هغه چیری اوسیږی،

ریس ورته وویل: زه یو ځل بیا درته وایم رښتیا رښتیا راته ووایست زه دریم ځل بیا د چا څخه پوښتنه نکوم؟

هغوی وویل: ریس صاحب موږ رښتیا وایو موږ هغه نفر نه پیژندی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریس امنیه قومندان ته وویل: قومندان صاحب دوی بوځه او چې تر څو یې اقرار نه وی کړی تر هغه وخته یې مه ایله کوه،

امنیه قومندان وویل: پر سترګو ریس صاحب انشاءالله ډیر ژر به اقرار په وکم بیا تاسو ته خبر درکوم،

امنیه قومندان پولیسو ته امر وکی هغوی یې محبس ته کش کړل هغوی ناری وهلی او ریس ته یې زاری کولی چې ریس صاحب موږ وبخښه موږ نه یو خبر چې هغه څوک وو،

شهناز په خپل کور کی ډیره خوشحاله وه پلار یې هغی ته وویل: شهناز لوری ته خو پوهیږی چې دا هر څه ستا د ریس لکبله موږ تر لاسه کړه د هغه احسان خو موږ هیڅکله نسو ور ادا کولای خو چې نن ورتللی روغتون ته هغه ته د غرمی خواړه هم در سره یوسه او ښه ډیره مننه تری وکه،

شهناز وویل: سمده بابا خواړه به ور وړم خو شاید هغه زموږ خواړه ونه خوری ځکه هغه ډیر یو لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقامه شخصیت دی خو بیا هم زه به کوښښ وکم چی خواړه وخوری او زه ور سره وهم وینم ځکه ما تر اوسه هغه لیدلی هم نه دی،

شهناز په ډیره مینه خواړه تیار کړل او د ځان سره یی روغتون ته یوړل کله چی روغتون ته داخله سوه نو غوښتل یی چی د ریس دفتر ته ورسی او خواړه ورکی کله چی د ریس د لیدو لپاره د روغتون اخیری منزل ته وختل نو ریس په څار کیمره کی ولیدل نو ژر یی دروازه وان ته وویل: هله ورسه ډاکټره شهناز دلته را راوانه ده ورته ووایه چی د ریس دفتر ته میلمانه راغلی دی ریس د هغو سره مصروفه دی دفتر ته یی مه را پریږده، کله چی شهناز د ریس دفتر ته نیږدی سول دروازه وان ورته وویل: وبخښی اغلۍ ریس صاحب په دفتر کی د میلمنو سره مصروفه دی ماته یی ویلی دی چی باید څوک دننه پری نه ږدم، شهناز ورته وویل: سمده زه به یو څو شیبی دلته انتظار ورته وکم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز د ریس د دفتر ومخته ډیر انتظار ورته وکړ اخیر بیرته خپل د دفتر وخواته روانه سول په لار کی د موسکاه سره مخامخ سول موسکاه د هغی څخه پوښتنه وکړه: شهناز چیری تللی وی ګرانی،

شهناز ورته وویل: غوښتل می چی د ریس صاحب څخه مننه وکم او بابا راته وویل چی باید هغه ته د غرمی خواړه هم ور وړم خو چی د دفتر وخواته ورغلم دروازه وان راته وویل چی ریس صاحب د میلمنو سره مصروفه دی غونډه لری نو زه بیرته رالم،

موسکاه ورته وویل: میلمانه؟ ما خو کوم میلمانه نه دی لیدلی چی د ریس دفتر ته دی راغلی وی او نه هم کومه غونډه نن سته نو چی دروازه وان ولی داسی درته ویلی دی،

شهناز ډیره پریشانه سوه او خپل دفتر ته ولاړه او هلته ډیره پریشانه کښینستل ریس هغه د ښار کیمری څخه ښارل چی په دی وخت کی د ریس دفتر ته مسکاه دننه سوه او د ریس څخه یی د ننوتلو اجازه وغوښته ریس

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې ته اجازه ورکړه موسکاه ریس ته وویل: ریس صاحب ډاکټرې شهناز غوښتل ستا سره ووینې او ستاسو څخه مننه وکې د هغې تحفې لپاره چې تاسو ورته په کلیزه کې ورکړې وه خو ستاسو د دفتر دروازه وان ورته ویلې وه چې ریس صاحب په غونډه کې د میلمنو سره مصروفه دی هغې تاسو ته پخپل لاس تیار سوی خواږه هم راوړې وه د غرمې لپاره،

ریس مسکاه ته وویل: ما چې د هغې سره کوم څه کړیدی هغه ما صرف د انسانې همدردی له وجې کړیدی چې دا ومننې ته هیڅ اړتیا نلرې او نه هم زه دا خوښوم چې زما څخه دی څوک مننه وکې او زما چې زیات بد کیږي ددې څخه چې زما په شخصې کارونو کې دې څوک لاسوهنه وکې،

مسکاه ډیره شرمنده سوه او ریس ته یې وویل: وبخښې ریس صاحب بیابه داسې خبره تکرار نکم،

مسکاه د ریس د دفتر نه ووتل ریس هم ډیر پریشانه سو او دروازه وان ته یې وویل چې ورسه د ډاکترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز ځخه د خواړو برتان راوړه چی ریس صاحب یی غواړی،

دروازه وان د د شهناز دفتر ته ورغلی او هغی ته یی وویل: اغلیٰ شهناز ریس صاحب د خواړو غوښتنه کړیدی ایا خواړه راکوی؟

شهناز وویل: نه نه یی درکوم دا خواړه ما خپل ځانته راوړیدی،

ریس د شهناز خبری د ځار کیمری ځخه ځارلی او د شهناز پر دی خبره یی وخندل،

خو کله چی دروازه وان د شهناز د دفتر نه روان سو شهناز ناره کړه پسی او په دردیدلی لهجه یی ورته وویل: راسه واخله ور یی وړه، بیا یی د ځار کیمری ته په درد درد وکتل هلته ریس پخپل دفتر کی د شهناز دی کار ته خندل، کله چی یی خواړه ریس ته راوړل نو ریس هغه په ډیر خوند سره وخوړل او بیا یی تر سترګو اوښکی راغلی او شهناز ته یی زنګ ور ووهلی شهناز چی کله موبایل اوکی کړ ریس ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: ډاکټرۍ شهناز زما په کور کی د پنځو هیوادو اشپزان اشپزی کوی خو پوهیږی شهناز داسی خواړه می پخپل ټول عمر نه وه خوړلی دومره ښکلی اشپزی دی کړی وه ایا تاسو ماته هره ورځ داسی خواړه راوړلای سی؟

شهناز ورته وویل: سمده ریس صاحب ولی نه تاسو پر موږ ډیر احسانونه کړیدی که زه ټول عمر تاسو ته خواړه راوړم خو بیابه می هم ستاسو د احساناتو یو کوچنی بدله هم نه وی ادا کړی پوهیږی ریس صاحب تاسو چی ماته زموږ کور ډالی کړ ما او زما بابا ته مو نوی ژوند راکړ دا احسان به مو په ټول عمر نکم ذر ادا،

ریس ورته وویل: ډاکټری شهناز ما پر تاسو هیڅ احسان نه دی کړی دا خو زما دنده ده چی باید ستاسو سره می کمک کړی وای خو که بیا هم ته دیته احسان وایی نو تا دا احسان همدا نن ادا کړ نور زما د احسان بار پر تاسو نسته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز د ریس نه مننه وکړه او هره ورځ یی ریس ته خواړه راوړل، څو ورځې بعد د امنیه قومندانی نه زنګ راغلی ریس ژر د دفتر نه ووتی او امنیه قومندانی ته ورغلی امنیه قومندان ورته وویل: ریس صاحب په هغو مو اقرار وکی هر څه یی راوښوول دا ورقه واخله ریس صاحب په دی کی د هغه نفر ټول معلومات او ادرس سته موږ به هلته پولیس ور واستوو چی هغوی ونیسی،

ریس ورته وویل: نه قومندان صاحب ستاسو کار همدومره وو نور یی ماته پریږده زما سره خپل ساتونکی سته زه خپله ورځم او نیسم یی،

ریس او مرستیال یی د ادرس مطابق ورغلل او د سرفیراز کور یی پیدا کړ شا وخوا یی محاصره کړ ریس په خپل موټر کی ناست وو او ساتونکو یی د سرفیراز د کور دروازه ور وټکول، کله چی سرفیراز را ووتی نو ډیر وارخطا سو ساتونکو ورته وویل: ایا تاسو سرفیراز یاست،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرفیراز په وارخطایی سره ورته وویل: هو زه سرفیراز یم خیر وو؟

ساتونکی د سرفیراز په کور ورننوتل سرفیراز او پلار یی دواړه ونیول او د ریس د موټر ومخته یی ودرول کله چی ریس د موټر څخه راکښته سو نو د سرفیراز او د پلار مخ یی سور واوښتی او سرفیراز وویل: ته؟!،

کله چی سرفیراز بله خبره کول ریس هغه ټینګه چپلاخه پر مخ ووهلی او ورته یی وویل: د شهناز او د پلار د مځکو اسناد چیری دی که غواړی چی ژوندی پاته سی هغه اسناد راوښایست،

ریس خپلو ساتونکو ته امر وکی چی تر هغه وخته پکښی غورزی او وهی یی چی اسناد دروښیه، هغوی هم سرفیراز او پلار یی ښه ټینګ ووهله چی تر څو هغو اسناد ور وښوول، ریس هغه اسناد واخیستل او خپل مرستیال ته یی ورکړه د سرفیراز او پلار دواړو خولی یی په سلوشن ور وتړلی او ریس خپل مرستیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته وویل: دوی دواړه واخله د شهناز کورته یی وروله چی هغوی هم ښه پکښی وغورزیږی او ښه ټینګ یی ووهی خو پام چی د خولی څخه یی دا سلوشن لیری نکړی او دا اسناد د شهناز پلار ته ورکه،

د ریس مرستیال هغوی دواړه د شهناز کورته راوستل کله چی شهناز او د هغی پلار سرفیراز او د هغه پلار ولیدل نو دواړه یی دومره ووهل چی نیږدی وو مړه یی کی ددوی د وهلو پر وخت یی خپلی ستونزی فیاد کړی او ددوی په وهلو وهلو یی غمونه کم سول د سرفیراز او پلار د ډیرو وهلو په وجه ساه بنده بنده کیدل نیږدی وو چی مړه سی بیا د ریس مرستیال هغوی د وهلو څخه نور منعه کړه او مرستیال پولیسو ته امر وکی چی ریس صاحب ویل دوی د تل لپاره محبس ته واچوی جی بیا در څخه راونوزی، بیا مرستیال د شهناز د پلار د ټولو مځکو اسناد هغو ته ورکړه او د سرفیراز د پیدا کولو ټوله کیسه یی ورته وکړه د شهناز د پلار تر سترګو اوښکی راغلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرستیال ته یی وویل: نه پوهیږم زویه ستاسو د ریس صاحب څخه څنګه مننه وکم هغه پر دی دنیا یو ملایکه ده قربان یی تر مور او پلار سم چی داسی باتربیه زوی یی زیږولی دی....

وختونه وه همداسی تیریدل شهناز به هره ورځ ریس ته په مینه خواړه ور وړل او ریس به په خوند خوړل خو ریس به ځان شهناز ته نه مخامخ کاوه شهناز به ډیر کوښښ کاوه چی ریس ووینی خو د هغی کوښښونه به یی فایدی وه شهناز به د مسکاه څخه د ریس په اړه پوښتل چی څنګه دی عمر یی څومره دی ښکلی دی که بدرنګه واده خو به یی نه وی کړی، مسکاه به د ریس ډیر صفتونه ورته کول او ورته یی وویل چی نه ریس صاحب واده نلری د شهناز په زړه کی د ریس مینه پیدا سوه او ډیره تلوسه یی وه چی هغه ووینی، یوه ورځ چی کله شهناز د ریس لپاره خواړه تیارول نو پلار یی ولیدل چی شهناز ډیر په مینه مینه ریس ته خواړه تیاروی پلار یی پوه سو چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز پر خپل ریس مینه سویده پلار یی ورغلی او بغلته یی ورته ودریدی او ورته یی وویل: لوری یو پوښتنه در څخه وکم؟

شهناز وویل: هو بابا

پلار یی وویل: لوری ایا داسی نه معلومیږی ستا د ځیهری څخه چی ته ستاسو د ریس سره مینه کوی ایا رښتیا هم ته په هغه مینه سوی یی ماته ووایه لوری؟

شهناز وویل: نه بابا داسی خبره نه ده زموږ و د هغه حیثیت ډیر فرق سره لری زموږ حیثیت د هغه د یو کوچنی موټروان سره لا نه دی برابر،

پلار یی وویل: لوری مینه د حیثیت او مقام سره هیڅ اړه نلری که د دنیا ټوله سرمایه او هر څه د ترازو په یوه پله کی کښیږدی او د یو چا رښتینی مینه په بله پله کی نو بیا به هم رښتینی مینه پر وزنداره وی،

شهناز وویل: ستا خبره صحی ده بابا خو هغه به یی څنګه منی مسکاه ویل چی ریس صاحب ته والی

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب زاری کولی د هغه د لور سره د واده خو هغه یی جواب کړ نو بابا ته فکر وکه چی هغه د والی لور ته منفی جواب ورکړ نو موږ چشی یو،

پلار یی وویل: لوری ته هغه ماته پریږده زه ستاسو د ریس سره په دی اړه خبری کوم خو ته اول راته ووایه چی ایا ستا هغه خوښیږی؟

شهناز وشرمیدل او په خندا یی وویل: هو بابا

پلار یی وویل: سمده لوری زه به د هغه سره خبری وکم داسی به وکو چی د هغه لپاره به په کور کی یو میلمستیا ونیسو او ریس او کورنۍ به دعوت کوو چی کله ما و ستا ریس یوازی سوو بیابه ورته ستا په اړه ووایم خو ته راته ووایه چی د چشی په اړه به میلمستیا ورته وکوو څه بهانه به ورته وکوو؟

شهناز وویل: نه پوهیږم بابا خو مسکاه راته وویل چی ریس صاحب د نړیوال ځوان تجار اوارډ ته انتخاب سویدی چی په راتلونکی دوو ورځو کی به یی ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغه ماته ویلی وه چې کلیزه یې هم ده د اوارډ څخه په دویمه ورځ کې،

پلار یې وویل: نو سمده لورې د اوارډ په دریمه ورځ به ورته میلمستیا ونیسو او کلیزه به یې هم په میلمستیا کې ولمانځو وبه یې هم وینو ته هغه ته نن ووایه چې زما پلار درته د کلیزې میلمستیا په کور کې نیولې ده ورته ووایه چې کلیزه به دې زموږ سره لمانځی ته و کورنۍ به دې راځی زموږ کور ته،

شهناز ورته وویل: سمده بابا زه به ورته ووایم،

شهناز روغتون ته د ځان سره خواړه ویوړل او ریس ته یې ور واستول او دا خپل دفتر ته ولاړه، ریس خواړو ته په تلوار ناست وو چې کله یې خواړه وخوړل شهناز ته یې موبایل وکې او ورته یې وویل: واه واه اغلۍ شهناز ته خو هره ورځ تر هغه بلې ورځې ښایسته خواړه پخوی مننه،

شهناز وویل: نه نه ریس صاحب د مننې وړ نه ده خو زه ستا څخه نن ددی خواړو بدله غواړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریس موسکی سو او ورته یی وویل: خو اغلی شهناز شاید زما په وس کی نه وی ستا ددی خواړو بدله،

شهناز وویل: نه ریس صاحب ستا په وس کی ده خو که دی زما دا غوښتنه ونه منل نو زه نور دا وظیفه پریږدم او بیا هیڅکله دی روغتون ته نه راځم او زما زړه به ډیر مات سی نو ووایه ایا منی یی؟

ریس وویل: نه خدای دی نکوی شهناز چی ستاسو زړه به ماتیږی د زړه ماتیدلو په درد تر ما بل هیڅوک نه پوهیږی نو نه غواړم چی د چا زړه مات کم ووایه هر څه چی غواړی تر تاسو به یی قربان کم،

شهناز وویل: ریس صاحب دوی ورځ بعد تاسو ته د نړیوال ځوان تجار اوارډ درکوی او په دا بله ورځ یی ستاسو کلیزه ده بابا ستا د اوارډ او کلیزی په خوشحالی کی په کور کی تاسو او ستاسو کورنی ته میلمستیا نیولی ده تاسو او کورنی به دی هتماً راځی که نه راغلاست زما سره سره به می د بابا هم ډیر زړه مات سی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریس په خندا وویل: مننه اغلۍ شهناز خو دی هر څه ته څه اړتیا وه خو بیا هم مننه او ستا سره می وعده هم کړی وه چی درځم به خو شهناز شاید تر میلمستیا وروسته زما و ستا اخیری دیدن وی زه وایم هسی نه بیا په ژوند د یو و بل مخ ولا نه وینی،

شهناز په حیرانی سره وویل: څه مطلب پوه نسوم ریس صاحب؟

ریس بیرته خپله خبره واړول او شهناز ته یی وویل: ښه خیر اغلۍ شهناز انشاءالله که کوم کار مه نه وو درځم،

شهناز وویل: نه نه ریس صاحب وعده وکه چی هتماً به راځی که نه زما و د بابا به می ډیره خوا بده سی،

ریس وویل: سمده اغلۍ شهناز زه وعده کوم چی درځم خو ته به زما په لیدو ډیره هیرانه سی.

شهناز وویل: مننه ریس صاحب دا به دی پر موږ یو لوی احسان وی خو ریس ته دا راته ووایه چی ستا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو د کورنۍ څه رکم خواړه خوښېږي چې زه یې میلمستیا کې درته تیار کم؟

ریس وویل: شهناز چې ستا په لاس تیار سوي وي ستا د لاس هر رکم تیار سوي خواړه زما خوښ دي که یې زما کورنی وګوري هغوی به یې هم زیات خوښ کړي نور چې هر شی ته راپخوی هغه پوخ کړه،

شهناز موسکۍ سوه او ویویل: سمده ریس صاحب زه یې درته پخپل لاس تیاروم خو وعده وکه چې بیا به ټول خوري،

ریس موسکۍ سو او ویویل: سمده ټول خورم خو که مې ته ور پرېږدی ټولو ته هسې نه بیا جواب راکې چې څومره زیات خوراک کوی،

شهناز وویل: نه نه ریس صاحب نه درته وایم چې هر څومره خوري هغومره وخوره،

دوی ورځې بعد یې د روغتون ریس ته د ښه خدمتګار او ځوان تجار نړیواله جایزه ورکړه ټول ښار د ریس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی جایزی په ګټلو ډیر خوشحاله وو په روغتون کی متاپان او خوارہ سره ویشل کیدل شهناز هم ډیره خوشحاله وه او د میلمستیا تیاری یی ډیر په چټکی نیوه خپلو ټولو هغو ملګرو ته یی زنګونه ووهل چی ددی په کلیزه کی یی د ریس د نه لیدو لکبله ددی ښځه خوابدی سوی وی هغوی ددی خبر په اوریدو چی ریس د شهناز په کور کی میلمه دی ډیری خوشحاله سوی او د شهناز ښځه یی ددی خبر ورکولو زیاتی مننی وکړی سبا ماښام ته میلمستیا نیول سوی وه، کله چی لمر راوختی شهناز سهار وختی ډیر په چټکی سره تیاری نیوی کور یی ټول ګلفوشه کړ اشاری او ګروپان یی پکښی ولګول خواړه یی تیار کړه د نورم میلمنو خواړه اشپزانو تیارول خو د ریس او د هغه د کورنی لپاره خواړه شهناز په خپل اشپز خانه کی تیارول د خوړو د تیاری پر مهال د شهناز فکر د ریس په مینه کی وموښتی چی نابیره یی لاسته ایشیدلی غوړی ور وغورځیدل او لاس یی وسوځیدی خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریس مینی دا سوځیدل د هغی څخه هیر کړه او بیرته د خواړو په تیارولو اخته سول خواړه یی تیار کړه ماښام ته لږ وخت پاتی وو د کلیزی کیک هم را ورسیدی او پر یو لوړ سټیج یی کښیښوی ټول میلمانه را ورسیدل اوس نو ټول ښار د ستر او ځوان تجار او د هغه د کورنی د راتلو په تمه دی ټولو ګلان په لاس کی نیولی وو چی کله هغوی را ورسیږی نو دوی به یی پر وپاشی ټول په تمه وو شهناز او پلار یی سټیج ته نیږدی ولاړ وه او د ټولو سترګی د ماڼی و دروازی ته وی چی کله به ریس راسي، څو شیبی وروسته ناری سوی چی هلی تیار سی ریس صاحب راغلی ټول ډیر خوشحاله سول او د ماڼی د دروازی و خواته یی ور وځغستل شهناز او پلار یی هم ګلان په لاس کی د ماڼی د دروازی پر خوا را رهی سول، څو موټران چی د ټولو توری هنداری وی ودریدل ساتونکی یی راکښته سول او د منځنی موټر دروازه یی خلاصه کړه یو سپین سری ښځه او یو پوخ سینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی تری راکښته سوول شهناز او پلار چی یی کله هغوی ولیدل نو مخان یی تک سره واوښتل او ډیر هیران سول او ویویل د ځان سره دوی؟ او بیا وروسته یو ځوان راکښته سو چی ټولو میلمنو ناری کړی او د هغه پر خوا ور رهی سول شهناز او پلار یی سر جګ جګ کاوه چی هغه هم ووینی خو چی کله یی هغه ولیدی نور یی هم د مخ بڼه واوښتل  او پر خپل ځای مستقیم ولاړ وه هیڅ ښور یی ونه خوړی ځکه ویلیدل چی پوخ سینه سړی سلطان د مصطفٰی مشر ورور او سپین سری ښځه د مصطفٰی مور وه او د دوی دواړو په مینځ کی مصطفٰی وو، شهناز او پلار یی دواړه همداسی پر خپل ځای ولاړ وه چی مسکاه ورته راغلل او ورته یی وویل: شهناز ریس صاحب او کورنی یی راغلل نه یی وینی ورسه ګلان ور په غاړه که، شهناز په هیرانی مصطفٰی ته ګوته ونیول او مسکاه ته یی وویل: ایا دی ریس دی؟

مسکاه وویل: هو لیونی همدا خو زما و ستا ریس دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز ډیره هیرانه سوه په دی وخت کی مصطفیٰ شهناز ته را ورسیدی او هغی ته یی په خندا وویل: اغلیٔ شهناز ما نه وه درته ویلی چی ته به زما په لیدو ډیره هیرانه سی، شهناز همداسی په هیرانی مصطفیٰ ته کتل په لاس کی ګلان یی هیر سوه چی مصطفیٰ ته یی ور په غاړه کړی،

مصطفیٰ شهناز ته وویل: اغلیٔ شهناز دا ګلان زما لپاره دی؟

شهناز متوجی سوه او ژر یی ګلان ور په غاړه کړه د مصطفیٰ ورور او د شهناز پلار هم ښه روغبړ سره وکړ وروسته د شهناز پلار مصطفیٰ ته نیږدی سو او هغه یی ټینګ په غیږ کی ونیوی او پر تندی یی مچ کړ او ټول یو ځای سره کښنینستل، خبریالانو د مصطفیٰ سره مرکی شروع کړی کله چی د مرکو څخه فاریغه سو نو پخپلو مینځو کی یی خبری سره پیل کړی شهناز ریس یعنی مصطفیٰ ته ډیر په هیرانی کتل مصطفیٰ د هغی وخواته کتل او هغی ته یی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورین تندی د مینی ډکه مسکا کول د شهناز پلار هم ډیر هیران وو او زیاتی شرمیدی ځکه ده د مصطفیٰ سره ډیره خرابه رویه کړی وه خو مصطفیٰ او د هغه ورور د دوی سره په مینه بانډار کاوه، شهناز د مصطفیٰ و طرف ته ور نیږدی سوه او غوښتل یی چی بخښنه ځنی وغواړی خو مصطفیٰ هغی ته وویل: اغلیٰ شهناز زه ډیر وږی یم لومړی به ستا په لاس تیار سوی خواړه وخورو بیا به وروسته بانډار وکو، شهناز وویل: سمده ریس صاحب چی څنګه ستاسو خوښه وی،

خواړه تیار سول شهناز په ډیره مینه د مصطفیٰ ومخته خواړه ایښوول او مصطفیٰ هغه په ډیر خوند خوند خوړل خو د شهناز فکر او سوچ یوازی په مصطفیٰ کی وو او هغه ورځ یی په ذهن کی راګرځیدل په کومه ورځ چی دی مصطفیٰ په چپلاخه وهلی وو او بیا یی د مصطفیٰ مرستی چی د دوی سره یی کړی وی هغه په ذهن کی راګرځیدل، مصطفیٰ هم خپلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګی د شهناز په سترګو کی ښخی کړی وی او په مینه مینه او په مسکا یی خواږه خوږل، د مصطفٰی مور او ورور دواړو د شهناز د خوږو ډیر صفت وکړ د مصطفٰی مور د شهناز پر سر څه اندازه پیسی ور وګرځولی او خپل یو ساتونکی ته یی ورکړی او ورته یی وویل چی دا په غریبانو وویشه، کله چی خواږه وخوړل سوه شهناز تع یی ملګرو وویل چی موږ ستا د ریس سره معرفی کړه شهناز یی ډیره تنګه کړه خو شهناز شرمیدل چی دوی د مصطفٰی سره معرفی کړی نو هغوی ته به یی بهانی کولی، د مصطفٰی په شهناز او ملګرو کی یی فکر سو او پوه سو چی هغوی شهناز تنګه وی چی دوی زما سره معرفی کی خو شهناز شرمیږی نو خپله ور ولاړ سو او د ټولو سره یی روغبړ وکړ او شهناز ته یی وویل: اغلۍ شهناز ایا دا ستا ملګرې زما سره نه معرفی کوی؟

شهناز یو څه جرئت پیدا کړ او ورته یی وویل: ولی نه ریس صاحب، دوی ټولی زما ملګرې دی او دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما څخه زما په کلیزه کی خوابدی سوی وی ځکه ما دوی ته ویلی وه چی ته راځی خو چی ته نه راغلی دوی زما څخه خفه سوی چی تا مور. ته درواغ ویل،

مصطفیٰ د شهناز ملګرو ته وویل: نه نه شهناز درواغ نه ویل زه په هغه ورځ یو څه زیات مصروف وم نو ځکه نه راغلم ګناه زما وه نو ماته سزا راکړی،

د شهناز ملګرو مصطفیٰ ته په مینه وویل: نه نه ریس صاحب مور. خبری یو چی تاسو یو نړیوال سوداګر یاست غټ کاروبار مو دی خامخا مصروفیات زیات وی،

د مصطفیٰ مور او ورور د شهناز د پلار سره په بانډار اخته وه او ډیره خوشحاله وه سره،

مصطفیٰ غوښتل چی د شهناز سره یوازی خبری وکړی نو یی شهناز ته وویل: اغلیٰ شهناز ایا دا ستاسو ښکلی ماڼی نه راباندی وینی؟

شهناز وویل: ولی نه ریس صاحب راځی مهربانی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز مصطفیٰ ته د ډیره شرمه هیڅ هم نسوای ویلای مصطفیٰ غوښتل چی شهناز ددی احساس څخه لیری کړی چی دده سره یی په تیر وخت کی بد کړی وه نو یی ځکه د هغی سره د خبرو د جاری کولو لپاره د هغوی د کور زیات صفتونه کول خو شهناز به صرف مننه ورته ویل د خبرو په جریان کی شهناز او مصطفیٰ د ماڼی سر (بام) ته ورسیدل د خلکو بڼغ و بڼوغ کرار سو مصطفیٰ د شهناز چوپ پاته کیدو خسته کړ او شهناز ته وویل: اغلیٰ شهناز زه د څه وخت راهیسی خبری درته کوم خو ته هیڅ نه وایی ایا داسی خو به نه وی چی ته هغه څه رافیادوی چی تا په تیر وخت کی زما سره کړی وو؟

شهناز ته ددی خبرو په اوریدو ژړا ورغلل او د مصطفیٰ په پښو کی یی ځان واچوی مصطفیٰ ژر هغه د اوږو ونیول او غوښتل یی چی راپورته یی کی خو شهناز نه پورته کیدل او په ژړا یی مصطفیٰ ته وویل: ریس صاحب ماته بخښنه وکه زما څخه بیخی لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلطي سويده ما ستاسو سره ډېر بد وکړل ماته بخښنه وکړی،

مصطفیٰ شهناز د اوږو نه نیولی ده غواړی راپورته یی کړی خو شهناز نه پورته کیږی مصطفیٰ هغی ته وویل: شهناز ولاړه سه را دا څه کوی پخوانی خبری ما ټولی هیری کړیدی نو ته یی هم هیری که،

خو شهناز په ژړا د مصطفیٰ په پښو کی ځان ټینګ کړیدی او ورته وایي چی تر څو می ونه بخښی زه نه در ولاړیږم، مصطفیٰ ورته وویل: شهناز وام ولاړه سه ما بخښلی یی د وخته لا، وروسته شهناز ولاړه سوه مصطفیٰ د هغی اوښکی ورپاکی کړی او ورته یی وویل: لیونۍ ما خو ته د وخته لا بخښلی یی تیر وخت ما ټول هیر کړیدی نو ته یی هم هیر کړه او زه خو باید ستا څخه مننه وکم ځکه که چیری داسی نه وای را سره پیښ سوی ایا نو بیا ما دومره زیات پرمختګ کولای سوای او ته نه یی خبره چی زه ستا په سترګو کی اوښکی نسم زغملای لیونی ستا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازی خندا ښه خوند کوی دا ژړا ستا په سترګو کی هیڅ ښه نه معلومیږی اوس درځه چی زما د کلیزی کیک پری کړو شپه ناوخته کیږی، مصطفیٰ او شهناز دواړه د ماښی د بام نه راکښته سول د شهناز پلار د مصطفیٰ د مور او ورور سره لا په خبرو بوخت وو چی په خبرو خبرو کی یی د مصطفیٰ مشر ورور ته وویل: سلطانه مور ته بخښنه وکی مور د مصطفیٰ سره ډیره بد رویه کړی وه مور پر هغه کار ډیر پښیمان یو نن چی مور هر څه بیرته تر لاسه کړه او مور ته یی نوی ژوند راکړی دا ټول د مصطفیٰ د برکته،

د مصطفیٰ ورور په هیرانی وویل: کومه بد رویه تاسو د مصطفیٰ سره څه کړی وه،

کله چی د شهناز پلار هغه ته ټوله کیسه شروع کول نو په دی وخت کی مصطفیٰ را ورسیدی او د دوی خبره یی ژر ور واړول او ورته یی وویل: لالا شپه ناوخته ده د کلیزی کیک به پریکړو، مصطفیٰ د شهناز پلار دیته نه پریښوی چی دده مور او ورور ته دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده سره د سوی پیښی کیسه وکړی شهناز او پلار یی پوه سول چی مصطفٰی خپل مور او ورور ددی کیسی څخه نه دی خبر کړی نو ځکه یی د مصطفٰی سره لا نوره مینه زیاته سوه، د کلیزی کیک مصطفٰی په مینه سره پریکړ او کلیزه یی په خوشحالی سره ولمانځل یو څو شیبی وروسته د مصطفٰی ورور د شهناز پلار ته وویل: نور نو موږ ته اجازه راکړی شپه ناوخته ده او ډیره مننه ددی ښکلی میلمستیا څخه مو،

د شهناز پلار ورته وویل: نه د مننی وړ نه ده سلطانه وروره مصطفٰی جان پر موږ دومره زیات احسانات کړیدی چی زه به یی پخپل ټول عمر دا احسانات نه کم وړ ادا نن چی موږ هر څه یو د مصطفٰی جان د برکته یو،

وروسته مصطفٰی او کورنۍ یی د شهناز د پلار او شهناز څخه رخصت واخیستی او د کور پر خوا رهی سول مصطفٰی ته یی ورور پر لاری وویل: مصطفٰی د شهناز د پلار په یو خبره می سر نسو خلاص هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا سره کمه بد رویه کړی وه او هغه د کومو احساناتو خبری کولی؟؟

مصطفٰی نه غوښتل چی ورور یی ددی کیسی نه خبر سی او د شهناز د کورنۍ څخه یی کرکه وسی نو ورته یی وویل: لالا زه چی کله د کلی څخه ښار ته راغلم نو د شهناز په کور کی می استوګنه کول بیا د هغوی کورته میلمانه راغلل د شهناز پلار ماته وویل چی زه باید په یو هوټل کی و اوسیږم چی د دوی میلمانه را سره په تکلیف نسی او د احساناتو خبره یی ځکه کول چی ما په روغتون کی یوی ډاکټری ته ضرورت درلودی د شهناز پلار ماته وویل چی هغه وظیفه شهناز ته ورکم نو ما هغه وظیفه هغی ته ورکړه،

سلطان وویل: ښه دومره کوچنی خبره وه زه پریشان وم چی هسی نه دوی ستا سره بله کومه بده رویه کړی وی،

مصطفٰی وویل: نه نه لالا د شهناز پلار ډیر ښه سړی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه ناوخته وه شهناز په خپله خونه کې پر کټ ناسته وه او د مصطفیٰ ښکلې څېهره يې په ذهن کې ګرځېدل او موسکۍ به سوه، د پلار څخه يې ددې هيرانې شيبې له وجې د شهناز د واده خبرې هيرې سوې او دا ارمان يې په زړه کې پاتې سو، سهار چې کله شهناز او پلار يې ناشته کول نو دواړه د مصطفیٰ په اړه ږغيدل او پلار يې د مصطفیٰ ډير صفتونه کول شهناز پلار ته د هغه څخه د بخښنې ټوله کيسه وکړه پلار يې ډير خوشحاله سو چې مصطفیٰ دوی ته بخښنه کړيده، شهناز بيا په ډيره مينه د مصطفیٰ لپاره خواړه تيار کړل او روغتون ته يې د ځان سره يوړل کله چې روغتون ته ورسيدل شهناز غوښتل چې خواړه د دروازه وان پلاس مصطفیٰ ته ور واستوی خو مصطفیٰ د يو لوډسپيکر نه پر شهناز ږغ وکی او ورته يې وويل: ډاکټرې شهناز هيلې کومه تاسو خپله راسې زما دفتر ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز چی کله داخلیدل نو د مصطفیٰ څخه یی اجازه وغوښته چی اجازه ده ریس صاحب، مصطفیٰ په دی خبره پریشانه سو او شهناز ته یی وویل: اغلۍ شهناز بل واری چی زما دفتر ته ننوزی اجازه مه اخله مستقیم راځه او نور به ماته په خپل نامه وایی،

شهناز وویل: نه تاسو زما مشر یاست زه باید تاسو ته په ریس صاحب ووایم،

مصطفیٰ وویل: بس نو سمده نور زه ګرسره روغتون ته نه راځم ته زما امر نه منی،

شهناز په موسکۍ سره وویل: نه نه ریس صاحب تاسو به راځی سمده زه ستاسو امر منم،

همداسی زیات وخت تیر سو د شهناز په زړه کی د مصطفیٰ مینی ځای نیولی وو خو هغه ته یی نسوای ویلای،

وختونه تیریده ټول روغتون ته څرګنده سوی وه چی شهناز د مصطفیٰ سره مینه کوی او هغه ته هره ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډیره مینه خواږه راوړی څو میاشتی همداسی تیری سوی د شهناز مینه وار په وار زیاتیده خو ددی ویلو جرئت یی نه درلود چی مصطفٰی ته د خپلی مینی اظهار وکی، یوه ورځ چی کله شهناز روغتون ته راغلل غوښتل یی چی د مصطفٰی دفتر ته د هغه خواږه وروړی چی مسکاه پری ږغ کړ او ورته یی وویل: شهناز هیله کوم زما سره خو یو څه مرسته وکه زما کارونه اوس بیخی زیات سویدی دفتر کی یو څو دقیقی راسه زما دفتر ته،

شهناز ورته وویل: زه به د ریس صاحب خواږه ور وړم بیابه درسم،

مسکاه وویل: بیابه یی وروسته وروړی مازی د یو څو دقیقو کار دی،

شهناز هم ورغلل او یو څو دقیقی یی د مسکاه سره کار وکړ د هغی په دفتر کی چی کله فاریغه سوه خواږه یی په ډیره چټکی د مصطفٰی دفتر ته یوړل مصطفٰی هم ډیر وږی سوی وو د وږی په حالت کی ویده سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو کله چی شهناز ورغلل دفتر ته خواړه یی ورته تیار کړه او مصطفیٰ په بیړه وخوړل خو مصطفیٰ ته د نن د خواړو خوند یو څه تریخ معلوم سوو خو چی د شهناز زړه مات نسی نو بږغ یی ونه کړ او خواړه یی ټول وخوړل، څو شیبی وروسته مصطفیٰ ته کار پیدا سو او د دفتر څخه ووتی کله چی په زینو کی کښته کیدی نو سر یی وګرځیدی او وینه یی قی کړه او د زینو څخه لاندی راشوه سو ټولو کارکوونکو پر راوځغستل او دی یی عملیات خانی ته یوړ او معاینات یی شروع سول، شهناز په خپل دفتر کی وه چی خبره سوه چی په مصطفیٰ داسی چم سویدی تر خولی یی یو دم د غم چغه ووته نو ژر د خپل دفتر څخه ووتل او د عملیات خانی وخواته ورغلل خو عملیاتو لا جریان درلودی د روغتون ټول کارکوونکی د عملیات خانی پر شاوخوا ولاړ وه مسکاه شهناز ته ډیر بد بد کتل شهناز د هغی څخه پوښتنه وکړه چی خیر دی په ریس صاحب څه سویدی خو مسکاه هیڅ نه ورته ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی وخت کی خبریالان راغلل او د مصطفیٰ په اړه یی د مسکاه څخه پوښتنه وکړه چی په مصطفیٰ څه سویدی مسکاه شهناز ته اشاره وکړه او خبریالانو ته یی وویل: هغه انجلی زموږ ریس صاحب ته په خواړو کی زهر ورکړیدی غواړی هغه مړ کړی،

شهناز ددی خبری په اوریدو ډیره هیرانه سوه او په ژړغونی اواز یی مسکاه ته وویل: مسکاه دا ته څه وایی ایا ته پر سد یی زه به ولی ریس صاحب ته زهر ورکوم زما نو د ریس صاحب سره څه دوښمنی پاتی ده،

مسکاه ورته وویل: خواره خو تا هغه ته ور وړی وه،

شهناز ډیره هیرانه سوه په ټولو تلویزیونانو کی خبر نشر سو چی نموتی او مشهور تجار مصطفیٰ ته د هغه د روغتون یوی ډاکټری په خواړو کی زهر ورکړی دی، شهناز ددی خبر په اوریدو ډیره پریشانه وه، عملیات خانه کی د مصطفیٰ عملیات شروع دی او د نشی په حالت کی د عملیاتو په جریان کی هر وار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز اواز کوی او د ځان سره وایی: شهناز شهناز شهناز ته زما ښځه بیا لیری مه ځه زه ستا سره ډیره مینه کوم زه بیله تا ژوند نسم کولای، شپه ناوخته سوه شهناز د عملیات خانی ومختته ولاړه چی په دی وخت کی پولیس راغلل او د مسکاه ښځه یی پوښتنه وکړه چی شهناز کمه یوه ده مسکاه شهناز ته ګوته ونیول چی هغه یوه ده پولیسو شهناز ته وویل: اغلۍ شهناز ریس ته د زهرو په تور باید ته زموږ سره ماموریت ته ولاړه سه،

شهناز په ژړغونی اواز ورته وویل: قومندان صاحب ما ریس صاحب ته زهر نه دی ورکړی،

قومندان ورته وویل: ته چی هر څه وایی بیا یی په ماموریت کی ووایه،

شهناز پولیسو ته ډیری زاری وکړی چی دا کار مه نه دی کړی خو هغو کشول شهناز ورته وویل: لږ تر لږه خو می د ریس صاحب د عملیاتو تر ختمیدو پوری پریږدی، خو هغو ور سره نه منل او بنځینه پولیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه تر لاس ونیول او کشول یی چی په دی وخت کی د عملیات خانی څخه ډاکټران راووتل او پولیسو ته یی وویل: موږ د ریس صاحب عملیات وکړل د ریس صاحب حالت نازک دی تاسو اوس اغلۍ شهناز نسی بیولای ځکه ریس صاحب هر واری د هغی نوم اخلی د ریس صاحب د جوړیدو تر وخته تاسو اغلۍ شهناز نسی بیولای، پولیسو شهناز پریښوول شهناز ډاکټرانو ته وویل: ایا زه اوس د ریس صاحب سره لیدلای سم ډاکټرانو شهناز ته وویل: اغلۍ شهناز تاسو یو څو شیبی صبر وکړی موږ بیا درته وایو، شهناز د عملیات خانی ومخته په بی صبری ولاړه وه او ډیر یی ژړل څو ساعته وروسته ډاکټرانو شهناز ته وویل: اغلۍ شهناز تاسو اوس راتلای سی عملیات خانی ته،

شهناز هم ژر ورغلل او د مصطفٰی د کټ وبغلته کښینستل مصطفٰی بی هوښه وو شهناز د مصطفٰی لاس په لاس کی ونیوی او ډیر زیات یی وژړل او بیا یی وویل: مصطفٰی دوی ماته وایی چی ما تاته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواړو کی زهر درکړیدی ایا زه نو داسی کولای سم زه خپل ځان وژلای سم خو ستا پر بدن یو کوچنی زخم هم نسم زغملای پو هیږی ولی ځکه چی زه اوس ستا سره مینه کوم هو زه پر تا میینه سوی یم ته زما هر څه یی زه ستا سره ډیره مینه کوم ددی څخه مخکی چی زه ستا مرګ په سترګو ووینم زه به اول خپل ځان ووژنم،

شهناز مصطفٰی پر تندی ښکل کړ او د ځان وژنی لپاره د کلکین وخواته ور رهی سول شهناز کلکین خلاص کړ غوښتل یی چی ځان وغورځوی چی په دی وخت کی یو چا تر لاس ونیول او د کلکین څخه یی لیری کړه شهناز چی ورته وکتل ویلیدل چی مصطفٰی دی مصطفٰی ورته وویل: اغلۍ شهناز د زهرو لکبله شاید مړ سم خو که می ته یو وار بیا یوازی پریږدی نو هتماً به مړ سم زه پوهیږم چی ته بی ګناه یی ته ماته زهر هیڅکله نسی راکولای ، شهناز ددی خبری په اوریدو ډیره خوشحاله سوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفیٰ یی په غیږ کی ونیوی، شهناز مصطفیٰ ته وویل: مصطفیٰ ته اوس استراحت وکه شپه هم ناوخته ده ته استراحت ته ضرورت لری، مصطفیٰ ورته وویل؛ سمده خو ته به زما په بغل کی راسره کښینی،

شهناز ورته وویل: سمده زه در سره یم زه نور ستا څخه هیچیری نه ځم،

مصطفیٰ پر کټ پریوتی او خپل سر یی د شهناز پر لاس کښیښوی او بیده سو،

سهار سو او مصطفیٰ پوره استراحت اخیستی وو بغلته یی وکتل شهناز دده پر کټ سر ایښی دی او بیده سویده د هغی د ډیرو اوښکو لکبله د کټ یوه برخه لنده سوی وه او ورښتیان یی پر تندی پاشل سوی وه مصطفیٰ د مینی څخه د هغی د تندی ورښتیان د هغی د غوږ تر شا واړول په دی وخت کی شهناز د خوبه راکښینسته او د مصطفیٰ په لیدو موسکۍ سوه او د مصطفیٰ پر تندی یی لاس کښیښوی او ورته یی وویل: ستا صیحت اوس څنګه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفٰی ورته وویل: اوس خو بلکل جوړ سوی یم خو که چیری ته راسره نه وای نو هتماً مړ کیدم،

شهناز ژر د مصطفٰی پر خوله لاس ونیوی او په ژړغونی اواز یی ورته وویل: بل وار دا د مړ کیدو خبری در څخه وانه ورم ستا دوښمن دی مړ سی،

څو شیبی وروسته عملیات خانی ته پولیس او مسکاه راننوتل مسکاه د شهناز په لیدو ډیره غوسه سوه پولیسو لومړی د مصطفٰی د صیحت پوښتنه او وکړه او بیا یی شهناز ته وویل: اغلۍ شهناز تاسو اوس باید زموږ سره مامورئت ته ولاړه سی،

مصطفٰی په غوسه ورته وویل: مامور صاحب خبری دی په واک کی کوه ته په کوم جرم دا بیایی په دی جرم چی دی ماته زهر راکړی وه ایا ستاسو سره داسی ثبوت سته چی شهناز ګناهکاره ثابته کړی؟

پولیسو وویل: نه صاحب ثبوت خو زموږ سره نسته خو د مسکاه د بیان څخه موږ دا مامورئت ته د پوښتنو لپاره بیایو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفیٰ وویل: نه زه تاسو ته اجازه نه درکوم چې یو بې ګناه شخص دې مامورئت ته بوځی زهر ماته شهناز نه بلکې یو بل چا راکړی وه او زه د هغه څخه خپله پوښتنې کوم او بیا یې تاسو ته په لاس درکوم دا زما ستاسو سره وعده ده اوس تاسو تللای سی،

پولیس ولاړل مسکاه هم د عملیات خانی څخه په غوسه سره ووتل مصطفیٰ خپل ساتونکی ته وویل: د روغتون ټولو ډاکټرانو او کارکونکو ته ووایه چې ریس صاحب غرمی ته د روغتون د غونډو تالار ته غوښتی یاست،

ساتونکی ټولو کارکوونکو ته خبر ورکړ او ټول ډاکټران او کارکونکی د غونډو په تالار کی حاضر سول څو شیبی وروسته شهناز او مصطفیٰ د غونډو تالار ته رادننه سول ټول ورته ولاړ سول وروسته مصطفیٰ په خبرو پیل وکړ او ویویل: کله چې زه عملیات خانی ته دننه سوم د عمیلیات خانی ومخته چا و چا ګډون درلود،

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څو ډاکټرانو او کارکوونکو لاس پورته کړ او ویویل: صاحب موږ هلته شتون درلودی،

مصطفٰی د هغو ځخه پوښتنه وکړه: خبریالانو ته چا وویل چې ماته شهناز په خواړو کی زهر راکړی وه؟

ډاکټرانو او کارکوونکو مسکاه ته لاس ونیوه چې مسکاه ورته وویل، په دی سره د مسکاه مخ تغیر وخوړ او ډیره وارخطا سوه، مصطفٰی بیا د ډاکټرانو ځخه پوښتنه وکړه چې خبریالان څه وخت روغتون ته راغلل، ډاکټرانو ورته وویل: کله چې ریس صاحب تاسو په عملیات خانه کی واست او عملیاتو مو جریان درلودی، ددی خبری په اوریذ مصطفٰی د مسکاه ځخه د ټولو ډاکټرانو او کارکوونکو په مخ کی پوښتنه وکړه: اغلۍ مسکاه زما عملیاتو لا جریان درلودی او هغه لا نه وه خلاص سوی د هغه ځخه مخکی ته څنګه په دی خبره سوی چې ماته زهر راکول سوی وه، ددی خبری سره شهناز او ټولو د مسکاه وخواته په هیرانی وکتل، مسکاه په لړزیدلی اواز ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ریس صاحب زه خو یو ډاکټره یم په دی پوهیدم چی تاته زهر درکول سوی وه، بیا مصطفٰی د ډاکټرانو څخه پوښتنه وکړه: شهناز پولیسو ته چا معرفی کړه او پولیسو ته زنګ چا ووهی چی روغتون ته راغلل؟ ډاکټرانو ورته وویل: ریس صاحب شهناز پولیسو ته مسکاه ور معرفی کړه خو په دی نه یو خبر چی پولیسو ته چا زنګ وهلی وو، مصطفٰی خپل ساتونکی ته امر وکی چی د پولیسو ماموریئت ته زنګ ور ووهی کله چی هغه زنګ ور ووهی نو مصطفٰی ته یی موبایل ورکړ مصطفٰی د پولیسو د آمر څخه پوښتنه وکړه: آمر صاحب تاسو ته چا زنګ وهلی وو چی ماته زهر راکول سویدی او څوک یی در وښوول چی ماته یی زهر راکړیدی، آمر وویل: ریس صاحب ماته ستا د روغتون څخه زنګ راغلی وو هغه یوه ښځه چی راته یی وویل او د شهناز نامې څوک یی راوښوول، مصطفٰی د آمر څخه پوښتنه وکړه: آمر صاحب ایا د هغی ښځی نمبر ستا سره سته؟ آمر ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: هو ریس صاحب موږ ته چې کله څوک شکایت کوی موږ یې نمبر ثبتوو زه به یې در وګورم، آمر چې کله مصطفٰی ته د هغی ښځی د موبایل نمبر ورکړ نو مصطفٰی هغه نمبر ته پخپل موبایل زنګ ووهی کله چې زنګ ور روان سو نو د مسکاه موبایل وشرنګیده او مسکاه ته زنګ راغلی مسکاه نوره هم وارخطا سوه، مصطفٰی د هغی څخه پوښتنه وکړه: مسکاه!! شهناز خو ستا ملګرې ده که ته خبره هم وای چې دی ماته زهر راکړیدی نو تا دا څنګه پولیسو ته سپارل دا د دومره کلو ملګرتیا ته دی هم ونه کتل او پولیسو ته دی زنګ ووهی، مسکاه ورته وویل: ریس صاحب شهناز تاته زهر درکړی وه دی غوښتل چې تا مړ کړی نو ځکه می پولیسو ته زنګ ووهی، مصطفٰی په دی وخت کی د خپل جیب څخه یو کوچنی بوتل را وایستی او مسکاه ته یی ور ښکاره کړ او ورته یی وویل: مسکاه وژلم شهناز خو دا د زهرو بوتل ستا په دفتر کی څه کول که شهناز ماته په خواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی زهر راکول نو په خپل کور کی یی هم خواړو ته ور اچولای سوای خو دی ستا په دفتر کی ور واچول، ددی خبری سره ټول هیران سول او په هیرانی یی مسکاه ته وکتل او پوه سول چی ټول کار د مسکاه دی، مسکاه ددی خبر په اوریدو په ژړا سوه او ریس ته یی وویل: ریس صاحب دا کار ما نه دی کړی یو څوک غواړی ما ښکیل کړی دا ټول درواغ دی، مصطفٰی مسکاه ته وویل: ښه ښه دا یی ټول درواغ خو زه به یو بل ثبوت هم درکم، مصطفٰی خپل مرستیال ته وویل چی هغه د تیری ورځی د مسکاه د دفتر د محافظتی کیمری عکاسی راوړه، مرستیال هغه عکاسی ورته راوړل کمپیوټر ته یی پروجیکټور وصل کړ او ټولو ته یی هغه عکاسی ور ښکاره کړه ټولو ولیدل چی مسکاه لومړی شهناز ته د ورتلو بلنه ورکړه او کله چی هغه په کار اخته سوه نو مسکاه ژر د خوړو برتان ته زهر ور واچول او بوتل یی په کچره دانی کی واچوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو دا ریکارډ ولیدی شهناز چی کله د مسکاه دا چمبازی ولیدل نو مسکاه ته نیږدی ورغلل او هغه یی ټینګه چپلاخه پر مخ ووهل او ورته یی وویل: ولی دی زما سره داسی کول کومه دوښمنی دی راسره درلودل ما خو تاته د خپلی خور په نظر کتل خو تا را سره څه کول غوښتل دی ما په دام کی واچوی اخیر ولی ولی دی زما سره داسی کول ووایه؟

مسکاه په زوره شهناز د ځانه پوری وهل او په ژړغونی اواز یی شهناز ته وویل: پوښتنه لا ته کوی شهناز چی ولی د کومه وخت راهیسی چی ما وتا سره شناخته سوی یو د هغی ورځی راهیسی چی زه څه غواړم هغه ته تر لاسه کوی،

شهناز په هیرانی وویل: څنګه څه او ما چشی ستا څخه اخیستی دی؟

مسکاه وویل: شهناز تا زما څخه څه نه دی اخیستی په صنف کی به زه تر تا لایقه وم خو اول نمره ګی به تا تر لاسه کول خندا او ښه بخت به ما غوښتی خو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

به هم ستا وه هغه ټول می هیر کړه او اوس چی ما مصطفٰی د ځان د پاره وغوښتی خو هغه ستا سره مینه کوی ته به لا زما څخه څه څه واخلی نو ځکه می د مصطفٰی په زړه کی ستا لپاره د نفرط اچولو لپاره ستا په لاس هغه ته زهر ورکړه ما نه غوښتل چی مصطفٰی دی مړ کړم نو ځکه می کمزوری او تر وخت تیر زهر د هغه په خواړو کی واچول؟

ددی خبری په اوریدو ټول ډیر هیران سول مصطفٰی او شهناز ډیر وشرمیدل مصطفٰی مسکاه تر اوږو ونیول او ورته یی وویل: مسکاه! دا ته څه وایی ته خو به په هوښ کی یی؟

مسکاه په ژړا مصطفٰی ته وویل: هو هو په هوښ کی یم او زه دا په هوښ سره وایم چی کله می ته اول ځل ولیدلی نو مینه می در سره پیدا سوه هو زه ستا سره مینه کوم ستا په مینه کی زه هر څه کولای سم تر خپل ځان هم تیریدلای سم زه صرف ستا سره مینه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی نه یم لکه دا شهناز چی ستا د مقام او پیسو سره مینه کوی،

کله چی مسکاه و مصطفیٰ ته دا خبره وکړه چی شهناز ستا د مقام او پیسو سره مینه کوی نو مصطفیٰ ته ډیر درد ورغلی غوښتل یی چی مسکاه په چپلاخه ووهه خو بیرته یی لاس راوګرځوی او مسکاه ته یی وویل: مسکاه که تا یوه بله خبره هم د شهناز په باره کی وکړه نو تر ما به بل بد بیا هیڅوک نه وی،

مصطفیٰ شهناز ته وویل: شهناز! مسکاه چی زما سره هر څه وکړه زه تر هغو ور تیر یم او دا معافوم ځکه چی رښتیا هم په مینه کی انسان لیونی وی هر څه کولای سی او تر دی تر ما بل هیڅوک ښه نه پوهیږی چی مینه په انسان کوم کوم کارونه کوی زه د مسکاه څخه هیڅ ګیله نلرم خو یو لږ په دی ځنی خوابدی یم چی دی غوښتل زما په مینه کی یو بی ګناه مجرمه ثابته کی مسکاه چی ستا سره څه کړیدی ستا خوښه ده که یی پولیسو ته په لاس ور کوی او که یی معافوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مصطفٰی مسکاه ته وویل: مسکاه! ته په دی نه پوهیږی چی مینه څه ته وایی پوهیږم مینه یو لیونتوب او جنون دی خو دومره هم نه چی ځان او نورو ته دی تاوان و رسوی او بل دا چی شهناز هر څه لری هغه زما و هیڅ شی ته نه ده اړه او بل زما مقام او پیسی شهناز ته هیڅ ارزښت نلری،

د مصطفٰی خبرو د مسکاه په بدن کی زهر په شاتو واړول او زړه بی نرم سو مصطفٰی چی کله خبری خلاصی کړی بیا شهناز و مسکاه ته نیږدی سوه او هغی ته یی په نرمه خندا وویل: مسکاه! ته ماته اوس هم زما د خپلی سکه خور پځیر ارزښت لری که تا یو ځل هم ماته ویلی وای چی ته زما د اول نمره ګی خوشحاله ژوند و بخت سره مشکل لری نو ما به هر څه ستا لپاره قربان کړی وای ماته د مصطفٰی مقام او پیسی ارزښت نلری بلکی د هغه اخلاق راته ارزښت لری ځکه هغه بد چی ما دده سره په تیرو کلنو کی کړی وه که می د بل چا سره کړی وای نو اوس به

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی د وختـه لا ماتـه سزا راکړی وای موږ بـه یی د خاورو سره خاوری کړی وای خو ده ماته د هغه سربیره پـه خپل روغتون کی کار راکړی موږ ته یی زموږ بایلل سوی هر څه راکړه ماته یی زما ژوند زموږ کور بیرته راکړی نو ځکه یی زه احترام کوم او ماته تر ټولی نړی ارزښت لری،

ددی خبری پـه اوریدو مصطفٰی د شهناز وخواتـه وکتل او د هغی پـه سترګو کی یی خپلی مینه ناکی سترګی ښخی کړی،

شهناز و مصطفٰی ته وویل: ریس صاحب مسکاه زما خور ده زه نه غواړم چی دیته دی څوک لاس لا وروړی نو تـه پولیسو تـه ووایـه چی ددی ځایـه ولاړ سی دا زموږ موضوع وه موږ پخپل مینځ کی حل کړه دوی ته حجت نسته،

مصطفٰی پولیسو تـه امر وکړی چی تاسو ددی ځایـه ولاړ سی، مسکاه ته د خپلی غلطی احساس وسو او د مصطفٰی او شهناز څخه یی بخښنه وغوښته او هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخښنه ورته وکړه، د شپې شهناز په خپل کټ ناسته وه او د مصطفٰی خبرې یې په فکر کې راګرځېدلې چې مسکاه ته یې ویل چې که دې یوه خبره هم د شهناز په باره کې وکړه نو تر ما به بد هیڅوک نه وي بیا یې د عملیات خانې خبرې په ذهن کې راتللې چې مصطفٰی ورته ویلې وه چې د زړهرو نه شاید مړ سم خو که دې یو ځل بیا پرېښودم نو هتماً به مړ سم او ما یوازې مه پرېږده، شهناز ددې فکرو سره به موسکۍ هم سوه خو کله چې یې د مسکاه هغه خبره یاد سوه چې ویلې یې وه ( زه صرف ستا سره مینه کوم داسې نه یم لکه دا شهناز چې ستا د مقام او پیسو سره مینه کوي)، شهناز د ځان سره وویل چې دا خبره یوازې مسکاه نه بلکې ټول خلک همدا فکر کوي چې زه د مصطفٰی د پیسو او مقام سره مینه کوم د هغه سره نه نو ځکه ډېره خوابدې سوه بیا یې مصطفٰی ته زنګ ووهی هغه هم پر خپل کټ ویښ ناست وو او د شهناز په فکر کې وو مصطفٰی هیران سو او شهناز ته یې وویل: شهناز؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیریت خو به وی په دا نیمه شپه کی دی ځنګه زنګ را ووهی کوم مشکل خو به نه وی،

شهناز ورته وویل: نه نه کوم مشکل نسته داغسی خوب نه راتلی بره می تاته زنګ در ووهی،

مصطفٰی موسکی سو او شهناز ته یی وویل: ښه اغلی شهناز چی تاته خوب نه درځی نو بیا ما د خوبه باسی زه ځنګه ښه په خواږه خوب بیده وم خو تا راکښینولم،

شهناز موسکی سوه او مصطفٰی ته یی وویل:ریس صاحب ستا سره دا درواغ هیڅ خوند نکوی ځکه چی پکښی نیول کیږی دا ستا اواز خو د بیده نه دی ستا د اواز څخه معلومیږی چی ته هم ویښ وی او ما زنګ ځمه درته وکی چی ستا د روغتیا پوښتنه وکم،

مصطفٰی وخندل او شهناز ته یی وویل: ربښتیا هم اغلی شهناز زه په درواغو کی ډیر ژر نیول کیږم،

شهناز مصطفٰی ته وویل: ښه مصطفٰی ستا روغتیا اوس څنګه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفیٰ موسکۍ سو او شهناز ته یی وویل: ښه یم اغسی هم د تر وخت تیرو زهرو تاثیر ډیر وخت نه وی که نه اوس به د وخته لا مړ وای خو کور یی ودان چی تر وخت تیر زهر یی راکړی وه،

شهناز په غوسه وویل: مصطفیٰ ما نه وه درته ویلی چی بیا دا د مرګ خبری درڅخه وانه ورم که دی بیا وکړی بیا سزا درکوم نو،

مصطفیٰ وویل: سمده اغلۍ سمده بیا یی نکوم،

شهناز به چی کله روغتون ته تلل نو په ځان کی یی نور تغیرات راوستل نور به یی زیات وخت د مصطفیٰ سره نه لیدل کله چی به مصطفیٰ ورته دفتر ته دعوت ورکوه نو شهناز به ځان د مریضانو سره اخته کړ او مصطفیٰ ته به یی ویل چی مریضانو سره اخته یم ځکه شهناز نه غوښتل چی خلک ووایی چی شهناز د مصطفیٰ د مقام او پیسو سره مینه کوی، کله چی به مصطفیٰ ورته وویل چی زما سره ووینه خو چی کله به دی هغه ته منفی جواب ورکی نو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

به یی ډیر ژړل چی مصطفیٰ می څنګه نا امیده پریښوی هغه ورځ به یی توله په ژړا تیروله، یوه ورځ چی کله دی مصطفیٰ ته منفی جواب ورکی په هغه ورځ یی په کور کی په اخبار کی د مصطفیٰ چاپ سوی عکس ته ژړل چی په دی وخت کی یی پلار کوټی ته راغلی او شهناز یی د اوښکو په حال کی ولیدل نو ډیر پریشانه سو او ورته یی وویل: لوری پوهیږم چی دا اوښکی دی د مصطفیٰ په مینه کی د سترګو څخه راغلی دی خو ته هغه ته وایی ولی نه چی ته ور سره مینه کوی؟

شهناز په ژړغونی اواز وویل: بابا ټول خلک دا فکر کوی چی زه د هغه سره د هغه د مقام او پیسو په خاطر مینه کوم نو ځکه نسم ورته ویلای،

د شهناز پلار وویل: لوری ته خلک څه کوی خلک خو هر څه وایی هغه متل دی نه دی اوریدلی چی وایی " د ښار دروازی بندیږی خو د خلکو خولی نه " ورسه ورته ووایه چی ته د هغه سره مینه کوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز وویل: نه بابا نسم ورته ویلای که می قیسمت را په نصیب کی خو ښه به وی که نه همداسی یی مینه په زړه کی ساتم،

مصطفٰی ډیر کوښښ کوی چی د شهناز سره ووینی او خبری ور سره وکی خو شهناز به د هغه څخه لیری ګرځیدل خو کله چی به کورته راغلل نو هره ورځ به یی ژړل پلار یی ددی حالت په لیدو ډیر زوریدی،

یوه ورځ چی کله شهناز روغتون ته ننوتل نو مصطفٰی تر لاس تینګه ونیول او خپل دفتر ته یی بوتله او شهناز ته یی وویل: شهناز دا څو ورځی کیږی ته ولی زما څخه لیری ګرځی ایا ما کومه اشتباه کړیدی چی راڅخه خوابدی یی ووایه نو ولی لیری لیری ګرځی راڅخه؟

شهناز وویل: نه تا کومه اشتباه نه ده کړی خو روغتون ته زه د کار لپاره راځم د بانډار د پاره نه،

مصطفٰی ورته وویل: شهناز دا د ماشومانو خبری مکوه پخوا خو دی هم کار ته راتلی خو دومره لیری

(c) ketabton.com: The Digital Library

به نه ګرځیدلی زما څخه یوه خبره خو هتماً سته چې ته یې زما څخه پټوی او د هغه په سبب زما څخه لیری ګرځې ایا داسې خو به نه وی چې ته د مسکاه په خبره چې هغې تاته وویل چې ته زما سره زما د پیسو لپاره مینه کوی ایا پر دی خبره ته زما څخه لیری ګرځې؟

شهناز وویل: نه دا خبره نه ده او زه ستا سره مینه نه کوم؟

مصطفٰی ډیر هیران سو او شهناز ته یې په درد وکتل او ورته یې وویل: ایا ته زما سره مینه نکوی شهناز؟

شهناز وویل: نه زه ستا سره مینه نکوم،

مصطفٰی وویل: نو په هغه ورځ په عملیات خانه کی چې زه ناروغ وم څه دی ویل ایا تا ماته نه وویل چې ته زما سره مینه کوی اوس بیا وایې چې ته زما سره مینه نکوی،

شهناز وویل: هغه ما ستا د ژغورلو لپاره درواغ وویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مصطفٰی تر سترګو اوښکی راغلی او شهناز ته یی وویل: ایا تا ماته درواغ ویل زما د ژوند ژغورلو لپاره پوهیږی د هغی ورځی راهیسی می د راتلونکی لپاره ځومره هیلی او ارمانونه درلودل خو تا د خاورو سره را خواری کړه زما ارمانونه زما د ژوند ژغورلو لپاره؟ خو تا چی زه په دی رکم وژغورلم دا دی زما سره ښه نه بلکی بد وکړل زما دا ژوند نه دی پکار،

مصطفٰی یو چاکو راواخیستی او خپل د لاس رګ یی پریکړ کله چی شهناز دا ولیدل نو ژر یی ور وځغستل او پر مصطفٰی یی چغی کړی چی دا دی څه وکړل، مصطفٰی مځکی ته ولویدی او شهناز هغه په خپل غیږ کی ټینګ کړ او ژر یی د هغه د لاس رګ ور پټی کړ او هغه یی ټینګ په غیږ کی ونیوی او په ژړا یی ورته وویل: دا دی څه وکړه؟

مصطفٰی په ژړغونی اواز شهناز ته وویل: شهناز زه بیله تا ژوند نه غواړم که ژوندی هم یم نو تر مرګ سخت عذاب به راباندی تیریږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز په ژړغونی اواز وویل: مصطفیٰ! ته زما ژوند یی زه هم بیله تا ژوند نسم کولای هو په هغه ورځ ما رښتیا ویل چی زه ستا سره مینه لرم ته می چی کله لومړی ځل په میلمستیا کی ولیدی دربا‌ندی عاشقه سوم ته زما ساه یی ته زما روح یی خو ټولو دا فکر کاوه چی زه ستا سره ستا د مقام او پیسو په خاطر مینه کوم نو ځکه می نسوای درته ویلای خو اوس زه د هیڅ پروا نلرم زه در سره مینه لرم مصطفیٰ،

مصطفیٰ ددی خبرو په اوریدو ډیر خوشحاله سو،

د مصطفیٰ او شهناز تر منځ خوږ بانډار ادامه درلوده مصطفیٰ خپل سر د شهناز په غیږ کی ایښی وو او شهناز د هغه په ورښتیانو کی کرار کرار لاس واهه او مصطفیٰ ته یی وویل: مصطفیٰ ایا ستا کورنۍ به ما د مږور په صفت قبوله کړی ځکه ستاسو مقام خو تر مږو ډیر لوړ دی زه وایم ستا کورنۍ به می نکړی قبوله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفٰی په غوسه ورته وویل: شهناز بل وار دا د مقام خبره ونکړی ته زما مینه یی زما ژوند یی که ته زما سره ونه اوسی نو دا مقام به هم نه یی بیا.. زما کورنۍ زما خوښی ته ګوری د انجلی مقام او پیسو ته نه چی باید زموږ سره دی نو برابر وی زه می د لالا او مور سره ستا په اړه خبری کوم،

شهناز وویل: سمده ګرانه

مصطفٰی شهناز ته وویل: شهناز زموږ په کور کی به یو میلمستیا جوړه کړو بیا به هلته هم خبری سره وکړو او کورنۍ به مو هم خبری سره وکړی بیا په دی هکله ستا څنګه خوښه،

شهناز وویل: سمده ته د میلمستیا اماده ګی ونیسه ما و پلار به هم درسو،

مصطفٰی وویل: اماده ګی نیول سویده زه غواړم چی ما و تا ډیر ژر واده سره وکو زه نور انتظار نسم کولای ته پلار او ملګری به دی همدا سبا شپه زموږ کورته راځی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز وویل: سمده زړګیه،

شهناز چې کله د روغتون څخه کورته ولاړه نو ډېره خوشحاله وه پلار یې پوښتنه څنې وکړه چې ولې دومره زیاته خوشحاله یې؟ شهناز ورته وویل: بابا ته به بیا سبا خبر سې په میلمستیا کې ته اوس صرف د سبا د میلمستیا لپاره اماده ګې ونیسه، پلار یې وویل: شهناز لورې په دې خو مې خبر که چې د چا میلمستیا ده او ته ولې دومره زیاته خوشحاله یې؟

شهناز وویل: نه بابا نه درته وایم سبا ماښام به یې خپله ووینې،

پلار یې وویل: سمده نو ګرانې زه به اماده ګې ونیسم چې ته مې چیرې بیایې،

سبا ته د میلمستیا تیارې ونیول سو او ماښام ته ټول شیان اماده سول په شهناز پلار او ملګرو پسې یې موټر راغلی او دوی ور سره ولاړل کله چې د مصطفٰی ماڼې ته ورسیدل د شهناز پلار او د شهناز ملګرو د شهناز څخه پوښتنه وکړه: شهناز دا دې مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیری راوستو د کوم باچا ماڼی ته خو دی نه یو راوستلی، شهناز ورته وویل: تاسو خو صبر وکی خپله به یی ووینو،

کله چی دوی د مصطفٰی ماڼی ته ورسیدل نو هلته یی ولیدل چی مصطفٰی او ورور یی د دوی د ښه راغلاست لپاره ولاړ دی د شهناز پلار هیران سو او ورغلی د هغو سره یی روغبړ وکړ هغوی یی تود هرکلی وکړ او بیا دننه کور ته ننوتل شهناز او ملګرې یی د پلار و شاته روانیوی شهناز ته یی ملګرو وویل: شهناز دا ستاسو ریس خو نن تر پخوا لا ښایسته سویدی څومره ښکلی معلومیږی،

شهناز خپل ملګرې تر غوږ ونیولی او هغو ته یی وویل: هی پام! ستاسو اخښی دی چی نظر یی نکړی ډیر مه ورته ګوری،

مصطفٰی د میلمنو څخه ځان وکښی او د شهناز سره پر بغل سو او ورته یی وویل: واه اغلۍ شهناز نن خو سمه ښاپیرۍ ښکاری،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز ورته وویل: هو نو! او ته هم تر ښاپیریانو نه یې کم زما ملګرو دی راته زیات صفت وکی بیا می تر غوږ ونیولی چی اخښی مو نظر نکړی،

مصطفیٰ موسکۍ سو او شهناز ته یې وویل: اغلۍ شهناز ته هم ډیره حسدناکه یې د هغو سره دی حسد کوی چی ماته ونه ګوری،

شهناز وویل: هو نو خود یې کوم ځکه چی ته یوازی زما یې او پر تا باندی یوازی زما حق دی،

د ماښام ډوډی تیاره سوه او ټولو په خوند سره وخوړل کله چی ډوډی خلاصه سوه د شهناز پلار د مصطفیٰ سره د یوازی خبرو لپاره مصطفیٰ ته وویل: مصطفیٰ زویه ایا دا ستاسو ماښی ماته نه راښکاره کوی،

د مصطفیٰ ورور پر ږغ کړه ولی نه مصطفیٰ زویه ورسه پر ټول کور یې وګرځوه چی دیقت در څخه ونکړی او زه به می د شهناز لور سره یو څه وخت بانډار وکم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفیٰ ورور ته وویل: سمده لالا چی څنګه ستاسو خوښه وی،

مصطفیٰ او د شهناز پلار سره روان سول او کرار کرار یی بانډار سره شروع کړ کله چی یو ارام ځای ته ورسیدل نو د شهناز پلار فکر وکی چی همدا موقع ده باید زه د مصطفیٰ سره د شهناز په باره کی خبری وکړم، مصطفیٰ هم فکر وکی چی باید د شهناز د پلار سره د شهناز په اړه خبری وکم نو دواړو یو ځای یو وبل ته وویل د شهناز پلار مصطفیٰ ته وویل چی مصطفیٰ زویه زه غواړم تاته یو څه ووایم مصطفیٰ هم یو ځای دده د خبری سره ده ته وویل چی بابا زه غواړم تاته یو څه ووایم ددی تصادف سره دواړو وخندل د شهناز پلار مصطفیٰ ته وویل: ښه مصطفیٰ زویه ته اول ووایه چی تا څه ویل غوښتل ماته،

مصطفیٰ وویل: نه بابا تاسو مشران یاست تاسو اول ووایست،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهناز پلار وویل: مصطفٰی! زویه غواړم تاته یو خبره وکم خو زه شرمیږم ویلای نسم درته زړه هم نسم کولای چی درته ووایم خو څه وکم زړه می نه صبریږی چی درته ونه وایم مصطفٰی زویه زه ددی خبری حق هم پر تا نلرم چی درته ووایم ځکه ما ستا سره یو وخت ډیر ظلم کړی وو که می چیری هغه وخت ستا رښتینی مینه د شهناز لپاره منلی وای او د خپل لوړ حیثیت غرور می تر پښو لاندی کړی وای نو دا دومره زیاتی ستونزی او غمونه به پر موږ نه راتلای خو زویه زه د هغه لپاره بخښنه غواړم زویه خبره می دا کول نه پوهیږم چی څنګه درته ووایم........!!!! زویه ایا ته زما د شهناز لور سره واده کوی هغه ستا سره ډیره مینه کوی پوهیږم زویه چی ستا حیثیت تر موږ لوړ دی نو شاید ته دا دوستی ونه منی خو د شهناز لور د خوشحالی لپاره می بیا هم درته وویل چی شاید تاسو دا دوستی ومنی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفٰی د شهناز پلار ته په مسکا وویل: بابا ما خو واری شهناز ته ویلی دی چی زه ستاسو څخه د تیر وخت پر پیښو هیڅ ګیله نلرم او نه هم در څخه خوابدی یم او پاته سوه د حیثیت خبره بابا زما حیثیت اوس هم تر تاسو نه دی لوړ بابا ما ته ټول انسانان یو رکم دی که غریب دی که خان د ټولو سره یو شان مینه کوم او بل بابا رښتینی مینه حیثیت او مقام ته هیڅ ارزښت نه ورکوی او بابا تا خو زما څخه دا هم ونه پوښتل چی ما تاسو ته څه ویل؟

د شهناز پلار په موسکۍ سره وویل: وبخښه زویه د یاده می ووته ښه ووایه چی تاسو ماته څه ویل؟

مصطفٰی په موسکۍ وویل: بابا ما هم ستاسو څخه د شهناز غوښتنه کول زه هم د هغی سره تر اوسه هم هغسی مینه کوم څنګه چی می اول سر کول خو تاسو راته مخکی دا وویل نو بابا دوستی پخه؟؟

د شهناز پلار مصطفٰی ته لاس ورکړ او په موسکۍ یی وویل: هو زویه دوستی مو پخه، خو باید لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو د ورور او مور سره هم خبری وکو هسی نه د هغو دا دوستی نه وی خوښه،

مصطفیٰ ورته وویل: بابا هغوی زما په خوښی پوهیږی چی زه څه خوښوم خو بیا به هم خبری ور سره وکو،

مصطفیٰ او د شهناز پلار دواړه یو ځای په خندا سره د سلطان او شهناز خواته راغلل کله چی سلطان مصطفیٰ او د شهناز پلار په خندا سره ولیدل نو دی هم ډیر خوشحاله سو او پوه سو چی دوی هلته کوم بحث سره کوی، د شهناز پلار د مصطفیٰ وروره سلطان ته وویل: سلطانه موږ دلته د میلمستیا او د دوستی لپاره راغلی یو غواړم د خپلی شهناز لور دوستی ستا د کشر ورور مصطفیٰ سره وکم نو ستا څنګه خوښه ده ایا تاسو ته دا دوستی قبوله ده؟

سلطان وویل: وروره تا خو زما د زړه خبره وکړه سهار والی صاحب راغلی وو په همدی اړه یی خبری کولی راسره خپله لور یی مصطفیٰ ته ورکول بیله دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه د مصطفیٰ څخه په دې اړه پوښتنه وکړم هغوی مې جواب کړل ځکه چې زه د مصطفیٰ په خوښې او ناخوښې پوهیږم زه پوهیدم چې دی د شهناز سره مینه کوی انتظار مې دیته کوی چې دی به خپله راته ووایي چې دی د شهناز سره مینه کوی خو ده زما د احترام په خاطر دا خبره نه راته کول نو وروره زما دا دوستي بلکل قبوله ده مبارک دې وی درته،

ټول ډیر خوشحاله سول د شهناز پلار او سلطان یو و بل په غیږ کې سره ونیول او د شهناز پلار هغه ته د کوژدې شیرینې ورکړه،

مصطفیٰ پټ د شهناز و بغلته ورغلی او شهناز یې په ځنګ ووهل او ورته یې وویل: اغلۍ شهناز درته مبارک دې وی نوی ژوند،

شهناز وویل: تاته دې هم مبارک وی زما ګرانه خو دا راته ووایه چې زما مهر (ولور) به څو راکوی؟

مصطفیٰ موسکۍ سو او شهناز ته یې وویل: ولور؟ ولاکه یوه روپۍ درکم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز خوابدی سوه او په ناز یی وویل: ښه زه تاته د یوی روپیٔ ارزښت نلرم بس بالا زه ستا سره خبری نکوم،

مصطفٰی وویل: هی زما گرانی! که زه دا ټوله نړی هم ستا په غیږ کی در واچوم بیابه هم لږ وی ستا ارزښت په نړی کی نسته،

شهناز وویل: بس بس په دی خبرو می زړه مه را ښه کوه زه خپل ولور غواړم راکوی یی که یا؟

مصطفٰی په موسکیٔ وویل: گرانیٔ خو تر واده وروسته خو زما هر څه بیله هغه هم ستا دی نو بیا ولور د څه د پاره؟

شهناز وویل: بس پوه سوم چی ته ډیر کنجوس یی بالا زه ستا سره خبری نکوم،

د مصطفٰی ورور د شهناز پلار ته وویل؛ وروره ته خو پوهیږی چی زه په یو کار کی ډیر تلواری یم انتظار می هیڅ نه خوښیږی نو دوه ورځی وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوزده او یوه میاشت وروسته موږ درځو او شهناز مړوور مې خپل کور ته در ځخه راولو ټول تیارئ موږ نیسو تاسو به هیڅ هم نکوی،

د شهناز پلار وویل: سمده سلطانه چې څنګه ستا خوښه وی او اوس شپه ناوخته سویده موږ ته نور اجازه راکړه،

شهناز پلار او ملګرو یې د مصطفٰی دوی څخه خدای په امانی واخیستی او ولاړل،

سهار چې کله شهناز او پلار یې ناشته وکړه نو مصطفٰی یې کورته راننوتی او د شهناز د پلار څخه یې اجازه واخیسته او ورته یې وویل: بابا زه روغتون ته تلم نو ما وویل چې شهناز به هم د ځان سره بوځم،

د شهناز پلار وویل: دا خو ډیره ښه خبره ده زویه،

شهناز په ناز خپل پلار ته وویل: بابا ده ته ووایه چې زه نه ور سره ځم چې تر څو یې زما غوښتنه نه وی منلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار یی وویل: کومه غوښتنه لورې؟

مصطفٰی ژر ورته وویل: شهناز ته راځه په موټر کی به یی حل کړو دا موضوع اوس راځه زه به دی ورسوم،

شهناز هم ور سره ولاړل مصطفٰی په موټر کی شهناز ته وویل: شهناز څنګه یی شپه پخیر سوه؟

شهناز هیڅ ږغ نه ورته کاوه مصطفٰی ډیری خبری ورته وکړی خو شهناز هیڅ نه ویل بیا یی وویل: تر څو چی زما غوښتنه ونه منئ تر هغو خبری نه در سره کوم،

مصطفٰی ورته وویل: ګرانی خو ما درته وویل چی څه زما دی هغه ستا هم دی نو بیا ته څه شی غواړی؟

شهناز وویل: زه خپل د ولور په بدل کی ستا څخه یو څه غواړم ایا راکوی یی؟

مصطفٰی وویل: سمده درکوم یی وغواړه څه غواړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز وویل: ته به زما په نامه ماته یو وړیا د ښځو لپاره روغتون راجوړوی که نه زه در سره خبری نکوم،

مصطفٰی وخندل او شهناز ته یی وویل: لیونی! دومره کوچنی غوښتنه ما چی ویل ته به راڅخه یو ډیره لویه غوښتنه وکی سمده در جوړوم یی اوس خوشحاله یی؟

شهناز موسکۍ سوه او ویویل: هو مننه ګرانه،

کله چی شهناز او مصطفٰی روغتون ته ورسیدل نو د روغتون دروازه او د روغتون دننه څه ساحه ټول په ګلانو ښایسته سوی وه مصطفٰی د دروازه وان څخه پوښتنه وکړه چی دا هر څه چا کړیدی دروازه وان وویل: ریس صاحب دا هر څه سهار وختی اغلۍ مسکاه ستاسو د کوزدی په خوشحالی کی وکړه کله چی مصطفٰی او شهناز روغتون ته ننوتل نو ټول د روغتون کارکونکو ګلان پر وپاشل او د کوزدی مبارکی یی ورکړه مسکاه شهناز په خپل غیږ کی ونیول او د مصطفٰی سره د کوژدی مبارکی یی ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهناز او مصطفٰی د مسکاه څخه ددی هر څه مننه وکړه چی روغتون یی د دوی لپاره په ګلانو ښایسته کړی وو، دوی ورځی وروسته د مصطفٰی او شهناز کوژده وسوه او د واده لپاره تیاری شروع وو،

د واده نیټه هم رانیږدی سوه او د شهناز او مصطفٰی واده وسو د واده میلمستیا ته د ښار ډیر لوی خلک راغلی وه او په جم و جوش د شهناز او مصطفٰی واده وسو کله چی د واده د شپی لپاره مصطفٰی د شهناز و خونی ته ور وستل سو مصطفٰی د شهناز سره پر کټ کښینستی شهناز شرمیدل نو ځکه یی لاندی کتل مصطفٰی د هغی مخ په خپل لاس راپورته کړ او د هغی ښایست ته یی څو شیبی کتل وروسته یی د شهناز په غیږ کی سر کښیښوی او تر سترګو یی اوښکی راغلی شهناز ډیره هیرانه سوه او مصطفٰی ته یی وویل: مصطفٰی دا د خوشحالی په شپه ته ژاړی ګرانه؟

مصطفٰی په ژړا وویل: شهناز دا د خوشحالی اوښکی دی هغه ورځ چی کله می تاته د مینی وویل او تا زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مخ په چپلاخه ووهلم نو زما ټولې هیلې ارمانونه د خاورو سره خاورې سول د ژوند ټول هدف او د ژوند کولو سبب مې یوازې ته وې خو چې ته مې د لاسه ورکړې زما د ژوند کولو سبب لمنځه ولاړې غوښتل مې ستا له کوزدې وروسته ځان وژنه وکم زهر مې لا رانیول خو چې کله مې خوړل دا فکر مې وکی چې سرفیراز خو صرف ستا سره ستا د پیسو لپاره واده کوی او تر هغه وروسته یې پریښوولې نو ځکه مې بیرته ژوند ته امید پیدا سو شپه و ورځ مې پر ځان یوه کړل د هیڅ کار او هیڅ خوارې ښخه مې مخ وانه ړوی دومره کار به مې وکی چې زما د بدن د هر اندام ښخه به وینې ښځیدلې پر مځکه به ولویدم خو بیابه مې سترګو ته ته ودریدلې او را ولاړ به سوم تر دې چې یو مقام ته مې ځان ور رسوی او ته مې لاسته راوړلې دا ټول مې صرف ستا د لاسته راوړلو لپاره وکړل ته پر ما ډیره ګرانه یې شهناز،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مصطفٰی ددی کیسی د کولو په جریان کی د شهناز د سترګو ښخه دومره اوښکی را وبهیدلی چی د هغی کالی یی ټول ور لانده کړل مصطفٰی یی ټینګ په غیږ کی ونیوی او د هغه لاسونه یی پخپلو لاسو کی ونیول او ټینګ یی مچ کړل او په ژړا کی یی مصطفٰی ته وویل: زما ګرانه پر تا دومره زیات تکلیفونه تیر سویدی کاش زما ګرانه چی هغه وخت می ستا مینه درک کړی وای اوس به نه ما او نه هم تا دا غمونه او ستونزی لیدلای ماته بخښنه وکه ګرانه،

مصطفٰی وویل: شهناز زه ستا ښخه هیڅ ګیله نلرم کله چی می ته تر لاسه کړی هغه ستونزی او غمونه می ټول هیر سول دا خو د خوشحالی اوښکی دی شهناز ته زما ژوند یی نور ما هیڅکله یوازی مه پریږده،

شهناز وویل: مصطفٰی ته هم زما ساه او روح یی ستا سره به یو ځای ژوند کوم او ستا سره به یو ځای مړه کیږم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصطفیٰ او شهناز د واده شپه په خوښی تیره کړه او ټول ژوند یی داسی مینه سره وکړه چی ټول ورته هیران وه او د دوی د مینی مثال به خلکو ور کاوه،

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ليکوال نور کتابونه

ښځه په اسلام او غرب کی

د نیکیو سمندر

360 way to get online money

Psychology

حیثیت (ناول)

---

## راتلونکی کتابونه

حیاء په اسلام کي

شیطانې اعمال

نیکه او بده ښځه

د کورنیو ستونزو حل

افغان (ناول)

تنها (ناول)

قاتل (ناول)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**